# کاڼی دل



پهٔ لاس کښې خوند نه کوي



اظهار الله اظهار

Ketabton.com

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

Izhar is a poet of accurate vision. His observation is sharp and keen. His response to his surrounding is quick, and poetry is marked with liberty, variety and romance. The precision of words goes with the rationality of his genuine fiery thoughts. The ideas are new and fresh. Like Dr. Jonson, he believes that there is no royal road to success in literature. That is why his style is elegant, effective and graceful. There is clarity, order and restraint in his poetry. ......... His poetry fills you with admiration and you feel your taste for poetry, is getting mature. Izhar's poetry is an untraditional form of poetry, in the sense that it contains freshness, maturity and a unique quality of sound and sense.

By:-
Sher Alam Shinwari
Daily Frontier Post,
Peshawar Pakistan.
Sunday, July 2, 2000



Izhar Ullah Izhar

Lecturer in Urdu
Islamia College Peshawar University
Phone: 240305

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کاڼي دَ ګل په لاس کښې خوند نهٔ کوي

اظهار الله اظهار

سنډیکیټ اف رائټرز (رجسټرډ) پېښور (پاکستان)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ اشاعت حق محفوظ دے

---

کتاب : کاڼي دَګل په لاس کښې خوند نهٔ کوي
شاعر : اظهار الله اظهار
ټائټل : محمد فهيم انصاري
ترتيب : محمد اياز غزل ، شکيل احمد ناياب
اهتمام : پروفيسر شوکت الله حسن ، محمد داؤد کمال
پروف ريډنګ : نوشاد حکيم ، پروفيسر سيد ايوب شاه
روبے اشاعت : ۱۵ ر اګست ۲۰۰۰ ء
پريس : انصاري پرنټنګ پريس محله جنګي پېښور
کتابت : ارشاد خان پښتو اکېډيمي پېښور
قيمت : ــــــــ ل روپۍ (۱۰۰)

---

رابطه

اظهار الله اظهار لکچرار اردو څانګه اسلاميه کالج
پېښور يونيورسټي
فون : ۲۴۰۳۰۵



# انتساب

دَ هاغې دروند پلار په نامه چې وائي
" دَ محبت زخمونه لا ښکاره شي
پوهه چې څومره حجابونه راوړي "[1]

* * *

دَ خوږې مور بي بي په نوم چې وائي
زما دې هيڅ نهٔ دي پکار بچيه
رب دې ودان کړه زما هرڅهٔ ته ئې

* * *

دَ خپل معصوم بچي حسان په نامه
چې زر تر زره دَ قرآن حافظ شي
او رب ترې جوړ کړي دَ اسلام مجاهد

---

[1] دا زما دَ والد صيب پروفيسر انعام الله جان قيس صاحب شعر دے چې دَ هغوي په شعري مجموعه "ژوندون کهٔ بېلتون" کښې چاپ دے۔
اظهار

# هائیکو

## تېروتنې او نیوکې

د هائیکو ساخت او هیئت څۀ دے. کومو معروضي حالاتو او نفسیاتي عواملو زېږولې ده. څۀ تاریخ، ثقافتي او سماجي پس منظر لري او پښتو ادب ته کله، څنګه او له کومه راغلې ده. ددې وضاحتونو بېخي ضرورت نۀ دے پاتې شوے. ځکه چې اوس د دنیا د نورو ژبو او ادبیاتو نه قطع نظر د پښتو ژبې او ادب د سر نقادانو او ادیبانو هم په دې حوالې سره دومره ضروري مواد او اهم معلومات مخې ته راوړلي دي چې دوباره ذکر به ئې لوستونکي د تکرار د بې خوندۍ او د نظر د ستومانۍ سره مخ کړي. ګني نو دې سلسله کښې زما مضمون چې زما د هائیکو ړومبۍ مجموعه "راته غوږونو کښې بنګړي شرنګوي" کښې چاپ شوے دے. بايد چې اولوستلے شي. او بیا په تېره تېره د بناغلي محمد ایاز غزل صیب تفصیلي مقاله چې د هغوی د هائیکو په مجموعه "د بنائستونو د صحرا ورېځې" کښې موجوده ده



په دې حقله کښې کشالې هوارولې شي.

ځکه نو دلته زما مقصد د هائیکو په تیکنیک څۀ تحقیقي مضمون یا مقاله لیکل نۀ دي بلکې د هغې اختلافاتو سراسر هم نه بلکې سرسري شان جاج اخستل دي. چې د ټپې په مرسته او د هائیکو په غندنه کښې مخې ته راغلي دي. ممکنه ده چې په دې لړ کښې زۀ د هائیکو څۀ فني او تیکنیکي اړخونه هم په ګوته کړم. ولې حیثیت به ئې د بحث د غوښتنې او موضوع د تقاضو نه زیات هېڅ هم نۀ وي او زما دې خبرې سره به بېخي نۀ متعارض کېږي چې ګني زما دا لیک په هائیکو باندې منضبط او مبسوط تحقیقي لیک نۀ دے.

تر اوسه پورې چې د هائیکو په مخالفت کښې کوم لیکونه زما له نظره راتېر شوي دي هغو کښې سنجیده او غیر سنجیده هر دوه قسمه ذهني رویو برخه اخستلې ده. دې لړ کښې چې غیر اصولي او د هائیکو د صنف سره په حسد، عصبیت او بې علمۍ باندې مبني بې ځایه مخالفتونه په نظر راځي. هغه زۀ د خپل بحث نه ځکه اوباسم چې داسې ذهني رویې د ژوند او ادب د غوښتنو نه صرف څنګ ده بلکې د نا اهلۍ د پېټو په څټه کښې د ټپې په اوږو د ټوپک ایښودلو ناداني ده او د ټپې سره د دښمنۍ کولو لارې هوارول دي.

البته د ټپې او هائیکو د تقابل په نتیجه کښې چې کوم اصولي اختلافات یا بنیادي اندېښنې مخې ته راغلي دي. باید

چې ځان ته یې واخستلې شي. خو له هر څه نه وړاندې زه
ښاغلیو ناقدینو ته فقط دومره ګذارش کول غواړم چې د
کومو اعتراضونو مفصّل او مدلّل جوابونه ما په خپل
مضمون "هایکو د پښتو ادب کمپیوټر" کښې ورکړي دي هغه
دې لازمي او لولي او د تصفیه شوو اختلافاتو دې په بیا بیا
بې ځایه ګردان نه کوي ګني نو اُو دې ښائي چې زه په خپلو
انتقادي معروضاتو کښې په کوم کوم مقام تیندک شوے یا
په کومو کومو ځایونو کښې تېر وتلے یم. زلمے نقاد ښاغلے
ازاد اشنغرے صیب په دې باب کښې لیکي.

"راته غوږونو کښې ښکړي شرنګوي، نوم هم
ښایسته او د ټاټېل کټ اپ هم ښایسته ........ د
اکثرو ملګرو نه چې ما کومې تبصرې پړې ولوستې
یا واورېدې د هغې په باب به زه څه ووایم، خو
دا به ووایم چې که د اظهار د کتاب سر مقاله په
غور ولوستے شي نو په دې کښې د دغو ښاغلیو
معترضینو د قانع کولو دپاره مواد شته."[1]

ما په خپل ذکر کړے شوي مضمون کښې دا حقیقت څرګند
کړے وو چې:

"د ټپې شاعر ورک وي او د هایکو شاعر ژوندے
او معلوم وي."[2]

لهٰذا ګنې ناقدینو ددې خبرې په ترځ کښې سنجیده او طنزیه



ردّ عمل ښکاره کړو. د مثال یو څو نمونې دا دي:

"جہاں تک اس بات کا تعلق ہے کہ ٹپہ شاعر کو مارتا ہے
اور اسکو گمنامی کے اندھیروں میں دھکیلتا ہے جبکہ ہائیکو
ایسا نہیں کرتا تو اس کا مختصر جواب یہ ہوگا کہ یہ تو ٹپے کی
وسیع القلبی ہے جو فرد کی بجائے قوم کو زندگی بخشتی ہے۔"[3]

دوېمه حواله:

"موږ خلق خو په نوم مړه یو او د ټپې د خالق
نوم چا ته نه وي معلوم نو د چا کار څه دے چې په
ټپه خپل وخت خرابوي. ځنې خلق خو تر دې پورې
وائي چې ټپه شاعر ورکوي او هایکو یې را ژوندے
کوي، مطلب دا چې د ژبې او ادب غم چا سره نشته
صرف او صرف د خپل ځان غم په مخه کړي دي."[4]

د حیرانتیا خبره دا ده چې ګران تنقید کوونکو ښاغلیو
اخر څنګه دا فرض کړه چې ګني اظهار الله اظهار په فای ژوند
کښې د ټپې د اهمیت نه انکار کوي د خبرې مطلب صرف او صرف
دومره وُ چې هایکو په تخلیقي سطح د فرد د انفرادیت نفې نه
کوي او خود نمائي چې د تخلیق کار فطرت دے ورته هایکو
کښې د تسکین موندلو زیاتې موقعې په لاس ورځي ګني نو
دغه معترضین دې پخپل ګرېوان کښې سر دننه کړي او اُودې
وائي که چرې د پښتو ژبې یو شاعر ادیب پخپله نامه نظم
نثر، غزل، هایکو، افسانه، ناول، خاکه، تکل وغیره لیکي نو

هغه به کښې د پښتو د ادب پنګه او د پښتنو د اجتماعي ژوند سرمایه نه شي تسلیمولے بلکې پښتانه به ئې په دې سبب رد کوي چې دا اصناف له بهره راغلي دي ځکه نو دا دي خپلو خپلو علاقو او وطنونو ته واپس کړے شي که هر څو مره پکښې هم د پښتنو د تاریخ ، ثقافت ، تهذیب ، رسمونو او د مذهبي ، سماجي او نفسیاتي رویو انګکازي ولې نه را پورته کېږي . خدائے دې نه کړي که چرې داسې اوشي نو د پښتو ادب په لمن کښې به اخر څه پاتې شي . اخر کوم خوا خوږے پښتون به دا اوغواړي چې د پښتو ژبې جولۍ دې د ادب د رنګا رنګ اصنافو د سپړدو نه سپوره پاتې شي . اوس هر کله چې تخلیقي انفرادیت د ملي او اجتماعي شعور په سفر کښې برخه اخلي او د قامي ترقۍ په هلو ځلو کښې هم خپل ځانته حیثیت برقرار ساتي . نو بیا په دې کښې د اعتراض څه ګنجائش دے ددې باوجود چې په معلوم کېدلو یا نه ورکېدلو او د خپل ځان غم په څه اخستو کښې د زمکې او اسمان فرق دے . لوستونکي دې اوس په خپله انصاف اوکړي چې د پښتو ژبې او ادب د ترقۍ غوښتونکي ښاغلي معترفین دي که اظهار الله اظهار .

راقم الحروف لیکلي وو

"هیڅ صرف علاقائي یا پښتو ادب متاثره کړے دے هایکو په آفاقي تناظر کښې د دنیا د هرې ژبې ، ادب او طبقې سترګې ځان ته را اړولي دي ." [۵]

ددې خبرې په ترڅ کښې ښاغلے اسیر منګل لیکي :

"هیئے نے صرف علاقائی یا پشتو ادب کو متاثر کیا ہے جبکہ ہائیکو کی عالمی پذیرائی ہوئی ہے ۔ میرے خیال میں هیئے کی جو عالمی پذیرائی ہوئی ہے وہ ایشیاء کے کسی اور صنف کو نصیب نہیں ہوئی ۔ یہی وجہ ہے کہ انگریز مستشرقین نے زیادہ تحقیق هیئے پر کی ہے اور اس صنف پر جامع کتابیں لکھ کر عالمی ادب سے اس صنف کو روشناس کیا ہے ." [۶]

د ترجمې د فني لغزشونو نه قطع نظر د تعجب خبره دا ده چې د کوم اعتراض جواب ښاغلي اسیر منګل کوي . هغه زما په مضمون کښې یو ځائے هم موجود نه دے او نه ما دا دعوی کړې ده چې ټپې ته په عالمي سطح توجه نه ده شوې . مقصد مې دا وو چې هایکو د دنیا په هره ژبه کښې رواج موندلے دے او هره ژبه کښې لیکلے کېږي او ټپه د بین الملي پېژندګلو باوجود صرف په پښتو ، پنجابۍ یا هندکو کښې لیکلے شوې ده . او هغه هم د بنیادي ساختیاتي تبدیلو سره . اوس که زما دې خبرې سره ښاغلے اسیر منګل اتفاق نه لري نو بیا دې ماته په انګرېزۍ ، اطالوي ، فرانسیسۍ جرمني ، روسۍ ، چینۍ ، فارسي ، اردو او د دنیا نورو لویو او وړو ژبو کښې لیکلې شوې یو څو ټپې اوښائي ولې ددې

برعکس هایکو د دنیا په هره ژبه کښې لیکلې شوي دي
او لیکلې کیږي. چې کوم مثالونه مې ښکاره کړل. زما په خیال
ښاغلي اسیر منګل زما مضمون ته په پوره تناظر کښې د کتلو
هیڅ ضرورت نه دے محسوس کړے او د خپلې خوښې هغه
عبارتونه یې راوستلي دي چې د هغوی تائید شوي مقصد
ته پرې تقویت رسیده شي.

کرنل ښاغلی مشتاق مجروح په خپل مضمون "اُن ایشیا کو
هایکو کښې په راقم الحروف د خپل خاص تنقید یې جبر کلي
کړي دي. لیکي،

"نن اُن ایشیا کو میشنونډي هوم کښې زمونږ میدلي ځنې
هایکو د فحاشۍ اعلی ترینې نمونې دي بلکې دا به په ذوق
سره ونیلے شو چې اُن ایشیا کو میشنونډي هوم کښې زمونږ میدلي
ځنو هایکو ته بیلو پرنټ ونیل مناسب دي."

وړاندې لیکي،

"په شاعره کښې راغلې ده چې پښتو شاعرۍ کښې تر
اوسه د فلمي شاعرانو نه علاوه بل چا هم فحش ګوئي نه
ده کړې. واحد دا نو وارد صنف دے چې ځنې لیکوالانو د
فحش ګوئي دپاره خاص کړے دے."

زه دا ونیل نه غواړم چې ښاغلی مشتاق مجروح دې ځپله
اعلی و ارفع ادبي تخلیق باندې لږ غور اوکړي. بهرکیف په
ادب کښې فحش ګوئي واقعي چې د ځنو د پاره اقدام دے دغه



رنګ د ادب د ځېنې نظریې ته زیان ورسي. زه هم د داسې
رجحان مذمت کوم خو زما په خیال چې ښاغلي مشتاق مجروح
ځنه ته د فحش ګوئي نسبت کړے دے او بیا ئې د ثبوت په
طور کومې نمونې وړاندې کړي دي په هغې کښې د ښکاره تېروتنو
ښکار شوے دے. زما مقصد هرګز د یو غلط رجحان وکالت
کول نه دي خو د حق او باطل ترمینځه فرق نه کول راته
هم یو لوے خیانت ښکاري.

درحقیقت فحش ګوئي یا فحش کاري د معاشرې د
اخلاقیاتو د چوکاټ نه د وتلو او د حد د ماتولو لوے
جرم دے. چې د هوس ناکۍ، شهوت پرستۍ او عصمت
فروشۍ ښکاره بلنې پکښې د انسان نه د ښه سوچ او
نګ لارې خطا کوي او په سرې سترګې تورزوي. بېشکه
د داسې رجحان خلاف نه صرف قلمي جهاد پکار دے بلکې
داسې حال کښې توره وېستل زیات مناسب دي البته که ددغې
عناصرو په مرسته په یوه بې ضرره پیرایه کښې د ژوند
ترجماني اوښودلے شي. یا د معاشرې بربنډو او لغړ ارخونه
پکښې په داسې هنر اوښودلے شي چې پکښې د لذت پرستۍ
نه برعکس د کراهت او نفرت تصور او تصویر راښکاره کیږي
نو دا به فحش لیکل نه بلکې د اصلاحي ادب په زمره کښې
راځي. ځکه چې د یو شي غلط او سم استعمال د هغې د ښه او
بد فیصله کوي. اوس که یو نفس پرست "بهشتي زېور" ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

کوک شاستر وائي نو په دې کښې به قصور د چا وي لهٰذا
دوه څیزونه په دې سلسله کښې ډېر اهم دي یو موضوع
او بل موضوع ته اپروچ - اوس که یو ښه خیال ته غلط
اپروچ اوشي نو ښه خیال به په دې سبب نه غندلے کېږي
چې کښې ناروا اپروچ ورته اوکړے شو بلکې د غلطو اندازو
سر غوڅول به عین انصاف وي.

ښاغلي مشتاق مجروح چې د راقم الحروف په کومو
هائیکو باندې د فحش گوئي تهمت لگولے دے د نمونې په
ډول ترې یو دوه هائیکو وړاندې کېږي.

واده کښې پام کوه ناوخته نه کړې
چې استعمال کښې ئې اوبه نه راځي
نو د کوهي ټولې چینې اوچې شي

زه نه پوهېږم چې آخر کوم داخلي انتشار ښاغلے دې
کج بحثۍ ته را اوپاروي چې نقل کړے شوي هائیکو کښې
فحاشي ده. چې نه ئې لفظیاتو کښې د هوسناکۍ څه ترغیب
شته او نه ئې معنیٰ د شهوانیت چغلي خوري البته څرګنده
پکښې د خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم د وینا مفهوم دے چې بچے
دې بالغ شي نو واده ورله اوکړه - ځکه چې زما په خیال
ورستو ترې کومې پېچیدګۍ هم پیدا کېدے شي.
بله هائیکو :-



کرښې له سر راوړه نادانۍ کښې
کړک چې د کوې چرګې نه ماتېږي
ورله په پوزه کښې بنړله ورکوې

چې پکښې د جرم او سزا قانوني اړخ په تمثیلي انداز
کښې وړاندې شوے دے او دا حکمت پکښې بیان شوے
دے چې په ښځو پړې نه دې ستول پکار کښې نو مازغه ئې
خرابېدے شي. خو ښاغلي مشتاق ته پکښې ښکاره فحاشي
ښکاري اوس دې دوستونکي چغېله او وائي چې فحاشي زما په
هائیکو کښې ده کنه د ښاغلي معترض په ذهن کښې.
بعض تقدیر که زما په هائیکو کښې د جمالیاتي حسیاتو د
ادراک او اظهار سره سره د فحاشۍ عناصر په لاشعوري
توګه هم راغلي وي نو استغفرالله خدائے ته مې دې توبه
وي. بلکې زه د دا رنګ هائیکو د Disone کولو اعلان کوم.
البته د ښاغلي مشتاق مجروح صیب دا دعویٰ بېځې بې
ځایه ده. چې کښې په پښتو کښې د فلمي شاعرانو نه علاوه
بل چا فحاشي نه ده خوره کړې مګر هائیکو کښې دا سې
کېږي.

زه پوښتنه کوم چې آیا خوشحال خان خټک بابا فلمي
شاعر و او که نه، که جواب ئې نفي کښې وي نو بیا د هغوی
په شاعرۍ کښې چې کومې ناروا شوخۍ او اسېرشونه دي تر
کومه پورې ئې ښاغلے ډیفینډلو Defend کولے شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوېمه خبره دا ده چې بناغلی مشتاق چې د ټپې د پاکدامنۍ نه صرف قائل دے . بلکې وکالت ئې هم کوي زما په خيال يا خو ګني هغوي فقط نفس ګټې او برګزيده ټپې اورېدلې او لوستلې دي او يا ګني د ټپې فحاشي ورته فحاشي نه ښکاري. د نقل کفر، کفر نه باشد په مصداق د ښاغلي په خدمت کښې دا څو ټپې وړاندې کېږي ددې صراحت سره چې دا چرته اخوا دېخوا ټپې هم نهٔ دي بلکې د پښتو ژبې مشهورې او معروفې ټپې دي چې مستندو مطبوعه ټپو کښې شمېرلے کېږي.

يا قربانے :

په ما دې خپله نغاره کړه

ورکه غرمه شه چې شملو له به درتلمه

، چې خوله مې اخلې بسم الله کړه

پېريان پرې ناست دي اثري به شې مينه

، اسمان له ستورو غاړه ورکړه

ماله بې ننګه اشنا غېږ نهٔ راکوينه

، سورے سورے په ګوګو راشې

چې پرهارونه دې ګنډم خوله درکومه

دا د رشو نه چونګ دے . هيله لرم چې ښاغلي مشتاق سره به ددې ټپو په صفايي کښې ګڼ تاويلات او توجيهات وي ګني نو دا به منې چې په پښتو ژبه کښې صرف فلسي



شاعرانو فحش ګويي نهٔ ده کړې بلکه د پښتو ژبې کلاسک او کلاسيکي دواړه قسمه شاعرانو ته دغه اعزاز پټکے په سر دے . او دا چې ټپه هم د فحاشۍ د زد نه بچ نهٔ ده پاتې شوې.

اصل کښې جماليات او فحاشي د يو تصوير دوه جدا جدا اړخونه دي خو مسبج ئې يو ده يعني جنس. اوس که د جنس صحت مند اړخ واخستلے شي . نو د جمال احساس به پېدا کېږي او که نه رنځور اړخ ئې موضوع جوړه شي نو فحاشي به ترې سازېږي - دغه وجه ده چې د جذباتو په غور ځنګ کښې ځنې وخت په دواړو کښې د امتياز کرښه رابښکل ګرانه شي - په داسې نازکو مرحلو کښې ذهن د هر قسمه الاتش نه بچ ساتل پکار وي ګني نو داسې حالتونه به راپېدا کېږي لکه چې ښاغلے معترض ورسره مخ شوے دے.

د اُنې اېنړکو هايکو ليکونکے ښاغلے مشتاق دا هم ليکي؛

" زموږ د پښتو نوؤ ليکونکيو د هايکو طرف ته مخه کړې ده او پکار هم ده د هغې وجه ډاکټر اسرار صاحب دا بيانوي چې په پښتو کښې زموږ متقد مينو دومره څهٔ وئيلي دي چې اوسنو ليکونکيو ته ئې څهٔ پرېښې نهٔ دي نو ځکه دوي په دې نو وارد صنف کښې د ليکلو کوشش نه کوي خو هغه ورسره دا هم وائي چې هايکو ليکونکي ماته ټول سايکو ښکاري زما يو بل ملګرے وائي چې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره یې ولې د ادبي اصنافو قات راغلی دی چې
اوس د جاپاني صنف نه کار اخستی کېږي. چاربېته
مره شوې ده، رباعي نشته، قصیدې ختمې دي
بکار ده چې زمونږ شاعران دغه خپل اصناف را
ژوندي کړي او که خامخا یې دې اصنافو کښې طبع
ازمائي نه شي کولی نو د پښتو خالص خپل صنف
ټپه چې د هائیکو نه مختصره هم ده په هغې کښې
دې طبع ازمائي کوي".

زۀ خپله هم دا غواړم چې ټپه دې او لیکلی شي خو
په دې کښې څوک څۀ کولی شي چې اوس نوی کول د ټپې په
مقابله کښې د هائیکو تخلیق له زیاته ترجیح ورکوي. لهٰذا
بکار دي چې ددې عمل په ورستو دې نفسیاتي عواملو او د
عصري غوښتنو ته پام ور اوګرځولی شي او بیا دا چې لوی
تحریکونه په مخالفتونو نۀ مري بلکې نوره وده او زور موي.
بحر کیف د بناغلي مضمون نګار د حوالې ددې یک نه قدم
په قدم د هائیکو صنف سره د هغوي د لاشعور هغه
پټ عناد راڅرګندېږي چې د اُنې اینګو لیکلو باعث او
محرک ګرځېدلی دی. بیا هم بناغلي مجروح چې د محترم ډاکټر
اسرار په حواله کومې خبرې کړې دي زۀ پرې اعتماد کوم
اوس هغوي پوهه شه او بناغلی ډاکټر اسرار. البته دا
خبره چې نو وارد صنف هائیکو ته د نوو لیکونکیو ځکه مخه



شوې ده. چې متقدمینو ورته د وېلو دپاره هیڅ نۀ دي
پرېښي اصولاً غلطه او غیر تحقیقي ده او ددې حقیقت منلو
نه سترګې پټول دي. چې ګنې د هر دور د ادب خپلې تقاضې
اسلوب، ډکشن، نفسیات، حوالې او غوښتنې وي.

نن چې په ادب کښې د علامت، سرئیلزم، ترقي پسندي
ډاډا ازم، تجریدیت او ازاد خیال د تلازې وغیره کوم فکري
او ټیکنیکي تحریکونه راپورته شوي دي. او شعري او
نثري ادب ئې کومې ارتقاء او ارتفاع سره مخ کړی دی
متقدمینو د هغې خوب هم نۀ وُ لیدلی او د هغوي د
خیال په حاشیه کښې هم چرته دغه امکانات نۀ برېښېدل
زۀ دا منم چې زمونږه کلاسیکي شاعرانو پښتو ادب ته
مستقل او پاخۀ بنیادونه ورېخښلي دي او راتلونکي کول
ته لارې اساني کړي دي خو دا دعویٰ چې ګنې د شعر او ادب
د ارتقاء سفر هغوي د موضوع او فن په اعتبار داسې کمال
ته اورسوو چې بل چاته ئې پکښې هیڅ نۀ دي پرېښي زیاتې او
سینه زوري ده.

ډاکټر صیب زمانه زیات په دې خبره پوه دی چې نن
او پرون کښې فرق وي نن چې دنیا د کومو پېښو سره مخ
ده او کوم نوي نوي علوم او فنون په کښې متعارف کېږي
یا کوم سائنسي ایجادونه او تجربې پکښې کېږي هغه د متقدمینو
زمانه کښې چرته وی او چونکې ادب ماضي سره سره د

Scanned by CamScanner

عصري او زماني پېښو په نبض ګوتې ږدي. لهذا عصري
پېښې به د تخلیقي زړه چاودون د مرحلو نه خامخا راتېروي
او محض د متقدمینو په ادبي کارنامو به انحصار نه کوي.
ګني نو په معاشره کښې به د ادب افادیت ختم شي. اوس
که چرې د ډاکټر صیب په خبره څوک ایمان راوړي نو پښتو
ادب به یو ګام هم وړاندې لاړ نه شي او یو نه ختمېدونکے
جمود به ئې په اعصابو لکه د خېټې ناست وي. دا حقیقت
هم دے چې دا سې سوچونو پښتو ادب ته لوے زیان ورسولے
دے.

د بناغلي ډاکټر اسرار ددې نیم پخته اعتراض یو بل
اړخ دا هم دے چې نوي لیکوالکي هایکو څکه لیکي چې ګني د
بره نه د نظم د نورو اصنافو دروازې بندې کړې شوي
دي. دا خبره هم بې تحقیقه او د مشاهدې خلاف ده څکه چې
نن سبا کوم نمائنده هایکو لیکونکي شاعران دي هغوي د
غزل، ازاد او معرّا نظم او ګڼ شمېره ادبي اصنافو په حواله
نه صرف پېژندګلو لري بلکې ادبي دنیا کښې منلي شوي او
مستند دي مثلاً ریاض تسنیم، محمد ایاز غزل، شکیل احمد نایاب
عامر کمایانے، جنرال عبدالصمد مومند، نجیب الله عامر
زبیر حسرت او راقم الحروف پخپله هم چې شعري مجموعه
" ستړګو کښې خوب د ګودر پاتې نشو" ئې د چاچا کریم بخش
د کال ۱۹۹۶ء د ورمبني انعام مستحقه ګرځېدلې ده.



پاتې شو د ګران بناغلي ډاکټر اسرار دا اعتراض چې د
هایکو لیکونکي ټول سایکو دي. نو دا د هایکو تخلیق کونکیو د
ذهني او نفسي کیفیتونو نه سراسر د بې علمۍ ثبوت دے
او د هغې بهتان طرازۍ یوه کړۍ ده چې د هایکو څنډونکي
ئې وخت په وخت په څه نه څه شکل کښې کوي. زه هم چې
بناغلي ډاکټر صیب د ایم. بي. ایس ډګرۍ ترلاسه کړې
ده او سیکاټرې د ایم. بي. بي. ایس په نصاب کښې یو څانګه
ده خو دا هم حقیقت کښې چې بناغلي ډاکټر اسرار صیب چرته
هم پروفیشنل سایکاټرسټ نه دے پاتې شوے. بلکې د ملازمت دوران
کښې او د ډیپارټمنټ اخستلو نه پس د یو ناکامه کوشش نه
ورستو ئې چرته عام پریکټس هم نه دے کړے او نه د
هایکو د رنځورانو د هغوي نه د علاج کولو څه شهادت
په لاس راځي نو بیا اخر څنګه د هغوي ددې خیالي تشخیص
سره اتفاق وکړے شي چې هایکو لیکونکي ټول سایکو دي
اوس که بناغلي د ادب په دې تخلیقي صنف کښې ځان له د
ځاے پیدا کولو خواهش لرونکیو ته په دغه سبب دا ناروا
نسبت کوي نو بیا خو د ادب د هر صنف سره تړلي د قلم خاوندان
د دغه اعتراض په زد کښې راځي څکه چې علت او سبب ئې
یو او مشترک دے. او که چرې بناغلي د هایکو سره د سایکو
د قافیې د سمون په وجه مزاح پیدا کول غواړي نو ډېر
په ادب ورته زه دا وېل غواړم چې اوس عموماً د مزاح

پیدا کولو دغه وسیله اوټ آف فیشن ګڼل کېږي او ما الفرین
که د مزاح پیدا کولو دغه انداز خیال کړے شي نو ممکنه ده
چې څوک دا هم اووائي چې د غزل لیکونکي خیال وي د ټکل لیکونکي
دماغ وي او د ټپې خالق ګېږي وي علی هذا القیاس ولې دا
به د مزاح پیدا کولو ډېره پېټوقې حربه او وسیله وي
او هغه مزاح چې منبع یې نېغه په نېغه د یو انسان یا د یوې طبقې
جذبات او احساسات زخمي کوي. د ادب د اعلی او رفیع
منصب سره هیڅ سمون نه لري.

تر څو پورې چې د الفي اینډ کو هایکو د مضمون نګار
بناغلي مشتاق مجروح د یو بل ملګري ددې احتجاج تعلق
دے چې کنې چاربیته، قصیده، رباعي او ټپه څه مړه
شوي خو نه دي چې لیکونکي جاپاني صنف هایکو لیکي.
ډېر بې ځایه په دې دے چې یو هایکو لیکونکي هم دا نه
دي ویلي چې څوک دې په ګوته شوي دغې اصنافو کښې
طبع ازمائي نه کوي ددې اعتراض نوعیت بېخي داسې دے لکه
چې څوک اووائي چې لوبغاړي دې کرکټ، هاکي، جمناسټک او
سکواش وغیره نه کوي. بلکې ددې په ځاے دې کُشتي
میرغټ کباډي او ګولي ډنډه وغیره کول شروع کړي چې
چرته روایت یې ختم نه شي. بله لویه د افسوس خبره دا
ده چې د "هذا ماکنزتم" غوندې د ضخیم تحقیقي کتاب
لیکونکے بناغلے مشتاق چې د کوم ملګري په حواله خبره کړې



ده. نو د هغه هیڅ نوم، ادبي حیثیت او درک یې نه دے په
ګوته کړے چې د تحقیقي اصولو خلاف او ادبي دیانت نه
تېښته ده. زما په خیال دغه رنګ بناغلي مشتاق مجروح د
یو فرضي کردار په خوله کښې خپله ژبه ایښې ده او په
یوې تراشلې شوې مجسمه کښې یې د هایکو خلاف خپل
ذاتي جذبات وړاندې کړي دي خو سره څه اووائي زموږ
قامي مزاج داسې جوړ شوے دے چې سوړ مړي را ژوندي
کوو او ژوندي وژنو.

پروفیسر بناغلے داور خان داؤد په خپل یو مضمون کښې
د هایکو او ټپې د هیئت د اختلاف په حقله لیکي:

"ځنې محققین د ټپې د هایکو سره نږدې تعلق
په ګوته کوي خو که وکتے شي نو بنیادي لحاظ
سره دې دواړو کښې د هیئت په لحاظ ډېر زیات
فرق دے. هایکو د جاپاني ادب یو مشهور صنف
دے. لکه د ټپې ددې د خصوصیت او مقبولیت
راز هم ددې په اختصار او جامعیت کښې دے
خو هایکو کښې صرف درې مصرعې وي. رومبۍ
مصرعه کښې پنځه، دویمه کښې اووه او درېمه
کښې پنځه صوتي اهنګونه وي یعنې دا ټول نظم
اوولس صوتي اهنګونه لري. رومبۍ او درېمه
مصرعه یې برابره او هم قافیه او دویمه یا منځنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې د دوو صوتي اهنګونو همسره د دوي هنه اوږده وي يعني هايکو د هيئت او موضوع دواړو په لحاظ د مخصوصو شرائطو پابنده وي.

د هايکو د صوتي اهنګ نظام د بحرِ متقارب دوې ارکانو مطابق کېدے شي

| | | | |
|---|---|---|---|
| فعلن فعلن فع | = | ۵ | |
| فعلن فعلن فعلن فع | = | ۷ | ۱۷ |
| فعلن فعلن فع | = | ۵ | |

خو ددې برعکس د ټپې د دوو مصرعو د صوتي اهنګونو يا ملي اوازونو ترتيب په دې ډول دے

۹ + ۱۳ = ۲۲ [۱۰]

د پروفېسر صيب فرمودات په سرسري کو خو ډېرې نيمګړتياګاني په کښې محسوسېږي او يو ځاے نيم کښې په کښې د تحقيقي سپرټ خلاف د سهولت احساس هم پېښ پښتو ته کوې ددې نه علاوه د معنوي د حوالې دا ييک يو فني تيندک سره هم مخ شوے دے.

معلومېږي دا چې پروفېسر صيب د هايکو هيئتي ادلون بدلون ساختياتي تبديلۍ او ټيکنيکي ارتقاء په نظر کښې نه ده ساتلې کنې نو هايکو به يې د اوولسو څپو [۱۷] او ۵ - ۷ - ۵ د ترتيب په حکمي او حتمي تقسيم کښې نهٔ راوستله يا دا هم ممکنه ده چې دې سلسله کښې پروفېسر صيب



بعضې رجعت پسندانه ادبي ذهنيت لري چې د هايکو د صنف نه د يو خاص مکتبهٔ فکر تړلے شوې قيود او حدود نه پورته کول غواړي. کنې نو د جاپان دوېمې هايکو نيکونکي باشو او ورستو ناقدينو چې ماسولو کاشيکي په کښې اهم دے. دغه ترتيب حرفِ اخر نهٔ دے ګڼلے او بيا په عالمي ادب کښې د يوې مصرعې، دوو مصرعو او درې مصرعو هايکو تجربې هم شوې دي. کېدے شي پروفېسر صيب ته هغه د التفات قابلې نه وي ښکاره شوې ولې بيا يې هم وضاحت لازمي ښکارېدو.

بهرحال پروفېسر صيب چې د هايکو دپاره د بحرِ متقارب د ارکانو کوم ترتيب منلے دے او په مثال کښې يې د همايون هما صيب کومه هايکو وړاندې کړې ده - دواړو کښې هيڅ تړون او نسبت نشته، هايکو په پښتو ژبه کښې ده چې د رزميه اوزانو دغې قسمونو سره هم اهنګي نهٔ لري او مطلق د بحر متقارب په بنسودلې شوې بحر نهٔ مقطع کېږي ځکه چې د پښتو ژبې او هايکو ځانته يو مزاج دے او د هغې په دغه تجويز شوي بحر باندې بېخي تقطيع نهٔ کېږي.

هايکو دا ده.

همدرد يې نوم دے
په مينه نهٔ پوهېږي
ساده ماشوم دے

Scanned by CamScanner

بله اهم خبره دا ده چې فعلن فعلن فع په اصل کښې
پنځه نه بلکې شپږ ارکان یا اصوات لري فع په دوو حرکاتو
ادا نه لري البته چونکې په فع کښې د فني اصطلاح ترمخه
سبب خفیف دے نو په ځنې موقعو پکښې یو حرکت
او غورځیږي خو همېشه داسې نهٔ وي اوس که څوک د
پروفیسر صیب په ګوته کړے شوي دغه اهنګونه راجمع
کړي نو شمېر به ئې[۲۰] اوولس نه بلکې شل وي. ددې ټول بحث
مقصد دادے چې پښتو هایکو د غیر فطري قدغنونه په
غاړ کښې دیکه کول نهٔ دي پکار. اوس که څوک په دغه
جاپاني ساخت کښې هایکو لیکي که په متوازي الاضلاع
هیئت کښې که مردف او مقفی هایکو لیکي که ازادې او
معرا هایکو پابندي پرې نهٔ دي لګول پکار ځکه چې پښتو
ژبه یوه داسې ژبه ده چې د وسیع المشربۍ او وسیع القلبۍ
یا وصف غیر فطري اصنافو او هیئتونو له په زړهٔ کښې
ځرته هم ځاے نهٔ ورکوي لهذا د هایکو هغه ساخت او
هیئت به پاتې کیږي چې پکښې د پښتو ژبې د مزاج رعایت
او ساتلے شي له څوک ورسره اتفاق کوي که اختلاف.

بناغلے پریشان داوُدزے لیکي:

" د بناغلي اظهار دا هایکو مې ځکه د دري مصرعه ایزو
نظمونو په نامه یادې کړي چې دلته هم په هره یوه هایکو
کښې یو پوره مضمون ځاے شوے دے "[۲۱]



زهٔ منم چې د ژوند او ادب په حقله د بناغلي پریشان
یو ځانګړے نقطهٔ نظر دے. بیا هم د هغوي د منقوله راے
نه ددې غلط فهمۍ خوریږو اندېښنه ده چې ګنې په
هایکو کښې پوره مضمون نهٔ بیانیږي بلکې هایکو د نیمګړو
مضمونونو یوټ او ورک تصویر وي. ممکنه ده چې د
هغوي دا خیال نهٔ وي خو په لیک کښې ئې دې طرفته د
پام کرځولو ښکاره احتمال موجود دے په دې موقعه له
دا خبره کول هم بې ځایه نهٔ وي چې ګنې د هایکو بنیادي
طور سره د فطرت د مصورۍ او تصویر کشۍ نه عبارت
دے دا حقیقت دے چې د نن هایکو ګنې ارتقائي مرحلې
تر سره کړي دي او د فطرت د ښائسته منظرونو د تصویر
کارۍ نه علاوه ئې د انسان د داخلي کیفیاتو او لاشعورانهٔ
اړخونو ته هم رابښکلي دي او د ابهام او وضاحت له امتزاجه
ئې داسې ګنې اړخیزو نفسیاتي حالتونو نه پرده پورته
کړې ده چې تخلیقي امکاناتو ئې د سائنسي تجربو لارې پرانستلې
دي او داسې هله کیږي چې په هایکو کښې دې پوره
مضمون یا د موضوع واړهٔ غوښتنې په فني چابکدستۍ
سره هم اهنګ کړے شي. لهذا یوې ښهٔ هایکو کښې د
مضمون د نیمګړتیا خیال سره اتفاق نهٔ شي کیدے.

پاتې شوه د بناغلي پریشان صیب دا خبره چې هایکو
ته درې مصرعه ایز نظمونه وائي نو په دې سلسله کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عرض دے چې هر درې مصرعه ایز نظم هایکو نهٔ وي ځکه چې د هایکو خپل داسې ساختیاتي کړهٔ وړهٔ نفسیاتي ماهیتونه تېکنیکي غوښتنې او داخلي اړخونه دي چې عام درې مصرعه ایز نظمونه ئې په اسانه نهٔ شي زغملے.

د مېرمنې سلمٰی شاهین خیال دے چې هغوي ته په داورې نو دا اطمینان ورته اوشي چې خبره سرته اورسېده خو د هایکو د اورېدو نه پس ورته داسې محسوسېږي چې څه خبره لا پاتې ده او یو قسم د تندې او تشنګۍ احساس ورته کېږي.[۱۳]

چونکې مېرمنې سلمٰی شاهین د روهي سندرو سلسله کښې په پښتو ټپو راټولولو کښې بلا وخت صرف کړے دے او دغه رنګ دغې خوږ اولسي صنف سره ئې نوره هم زیاته وابستګي او تړون پیدا شوے دے ځکه ورته داسې احساس کېږي. کېدے شي که هغوي د هایکو دوستو له هم دې خپل قیمتي وخت ورکړے وو د تندې او نیمګړتیا احساس به ورته بیا نهٔ کېږي او د هایکو په سلسله کښې به د خپل زور موقف نه لاس په سر شي. ځکه چې کوم څیزونه عموماً په عادتونو کښې راشي نو بیا زیات اپیل کوي.

بله دا چې د هایکو تېکنیک هم څهٔ دا رنګې دے چې ځنې سلسلې شعوري طور سره د ایهام، ابهام یا اخفا په



ورشل پرېږدي چې د دوستونکي ذهن پخپله ددغو سلسلو کړۍ خپلو کښې رایو ځائے کړي البته دا رعایت پکښې لازمي ساتي چې څهٔ داسې کلېدي توري یا نکتې پکښې پرېږدي چې په تصویر جوړولو کښې مرستیالي ثابتې شي. او د مضمون د نیمګړتیا احساس په ورستو اوتمبوي.

په دې لړ کښې دا خبره هم کېدے شي چې ځنې اصنافو ته د ځنې خلقو زیات میلان او رجحان وي نو که چا ته داسې محسوسېږي نو څهٔ د فکرمندۍ خبره نهٔ ده او نهٔ یو صنف ته د زیاتو ورماتېدو نه دا ثابتېږي کني چې هغه دې خامخا ما فوق الاصناف اوګرځي. هغه که ټپه وي که هایکو.

ښاغلي رحمت شاه سائل صېب د ښاغلي اسماعیل ګوهر په شعري مجموعه مُسکا (چې د پښتو ژبې اولنۍ د هایکو مجموعه ده) د هایکو د صنف خلاف خپل کوم خیالات څرګند کړي دي. د هغې لب لباب دا دے چې ګني اسمٰعیل ګوهر خپل ګڼ شاعرانه خیالات په دغه پیرایه کښې ضائع کړیدي.

د حېرانتیا خبره دا ده چې ښاغلي سائل اخر دا ځکه منلي دي چې ګني تخلیقي روح د یو مخصوص ظاهري کالبوت پابند او محتاج وي او که د یو معلوم هیئت په چوکاټ کښې تخلیقي جذبه خپل اظهار اونکړي یا له ځان سره د رائج اصنافو نه بیل څهٔ شکل راوړي نو خپل افادیت به اوبائیلي. م

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سائل صیب خپل ذاتي تاثر خو کېدے شي خو منلے شوے حقیقت دا دے چې هر روح د خدائے په قدرت د جوسې خوښه او انتخاب پخپله کوي نو معقوله خبره دا ده چې هر تخلیقي روح دې د خپل نوع فطري امتزاج ته پرېښودلے شي کنې نو مصنوعي اختلاط به ئې له برمه اوغورځوي. مقصد دا هم نه دے چې فني حکمت عملۍ نه دې کار نه اخستے کېږي. بهرحال که یو تخلیقي غورځنګ د هایکو پېرایه کښې ځان ښکاره کول غواړي او جبراً ئې څوک د غزل چاربېتې یا ټپې فارم یا سانچې ته اړول غواړي نو داسې غېر فطري او خطرناک به وي لکه چې د معمول خلاف ماشوم بې له څه ضرورت نه په لوئے اپرېشن پېدا کولو له ترجیح ورکړے شي.

تخلیقي جوهر خو د ملغلرې په مثال دے. هغه که هره پېرایه او هرچرته وي خپل قدر او قیمت نه ورکوي. البته د جوهرې د نظر موجودګي پکښې بنیادي شرط دے. مشرانو وئیلي دي چې لعل په ایرو کښې نه پټېږي ځکه زه دا دعویٰ کوم چې د اختلافاتو او مخالفتونو ایرې به د هایکو لعل کله هم پټ نکړے شي خو شرط پکښې دا دے چې د هایکو په ورستو د یو لوئے تخلیقي روح انګازې راپورته کېږي. ورسره دا خبره هم زیاتوم چې هایکو شاعرانه خیالات نه ضائع کوي. بلکې بقا او دوام ورته ورېخښي. که داسې نه وه نو د سائل صیب



د تنقید نه پس به چا هم هایکو نه وه لیکلې خو ثابته شوه چې د خیال لوړوالے، د جذبې افاقیت، د ژبې د نزاکت ادراک او شعور او د تخلیق د زړه چاؤدون څرېکې که په هر صنف کښې وي د خپلې لارې خنډونه پخپله لرې کوي او بیا دا هم ده چې سپرلے خو د خپلو واړه رنګونو په سبب سپرلے وي اوس که څوک وائي چې د ګلاب د ګل ورېږې دې په هر ګل کښې پېدا شي کنې نو ټول ګلونه په د خپلو همه نکهتونو باوجود ضائع یا ورک شي نو څومره بې ځایه به وي.

محترم ښاغلے اباسین یوسفزے چې په خپلې شعري مجموعې "غورځنګونو" کښې ئې د خولې د خوند د بدلولو دپاره هم یوې ټپې قدرې له ځائے نه دے ورکړے خو بیا هم د ټپې د مدافعینو په صف کښې او در بدل غواړي (اګرچې زما په خیال ټپه دومره قوي صنف دے چې د چا د هېڅ قسمه د دفاع څه حاجت ورته نشته)

ښاغلے د ورځ پاڼه مشرق پېښور په یو کالم کښې د "ہائے کیوں" د سرخط لاندې د هایکو خلاف په داسې استهزائي پېرایه کښې خپلې وسوسې څرګندوي. لیکي:

" ہائیکو کی مٹھاس سے بھی انکار نہیں ....... لیکن پشتو عوامی ادب میں اس سے زیادہ شگفتہ روح پرور اور پُر مغز صنفِ سخن ٹپہ موجود ہے۔ ٹپے کے مختصر ترین پیرائے میں جس

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



> قدر تغزل ہے وہ ہائیکو کی قسمت میں کہاں - ٹپہ پختون
> جبلت ، ذات اور فطرت کا سچا ترجمان ہے - ٹپے اور ہائیکو
> میں فنی اعتبار سے تمیز یہ ہے کہ ہائیکو میں تین مصرعے ہوتے
> ہیں اور ٹپے کی خوبی یہ ہے کہ اس میں تین کے بجائے دو مختصر
> مصرعے ۹ + ۱۳ کی بحروں میں ہوتے ہیں ......... اور
> فیثاغورث کے نزدیک ۲ کا ہندسہ تخلیق کی علامت ہے
> اس بناء پر دو مصرعے ٹپے کو سہ مصرعی ہائیکو سے طلاق
> دینا عقلمندی نہیں ۔"[۱۳]

زما په خیال بناغلي اباسین ته ددې خبرې علم ضرور پکار وُ چې دَ اصنافو دَ بقاء په ورستو یو زوراور تخلیقي قوت موجود وي او کله چې هم یو صنف دَ تخلیقي جوهر نه عاري شي هغه که ټپه ، چاربیته ، قصیده او هایکو وغیره هر صنف وي بیا خپل وجود برقرار نهٔ شي ساتلے او س که دَ یو پښتون شاعر تخلیقي زور په ټپه کښې ژوند را پیدا کولے شي نو هم دَ هغې شاعر دَ تخلیقي قوت نه به اخر بیا ولې په هایکو کښې ساه اوځي - ددې باوجود چې هېڅ تخلیقي جبر او غیر فطري قدغن پرې هم نهٔ وي لګولے شوے - بحر کیف زهٔ بناغلي اباسین ته داسې ګڼې شمېره ټپې په ګوته کولے شم چې هېڅ ادبي ښکلا او عوامي کشش پکښې نشته اګر چې څوک به ورته هم دَ ټپې وېلو نه انکار اونکړي . او س که محض دَ ټپې پیرایه دَ تفوق معیار ګڼلے کېدے نو داسې به



ولې کېدل - مقصد دا چې دَ تخلیق جوهري قوتونو دَ ادب په هره څانګه کښې دَ ځان ښکاره کولو توان لري - او س که څوک نمر په ګوته پټول غواړي نو څوک به ورته اخر څهٔ اووائي -

بناغلي اباسین په ټپه کښې دَ تغزّل دَ موجودګۍ دعوی هم کوي چې مناسب نهٔ ده - په اصل کښې تغزّل دَ غزل سره تړلے وصف دے لکه چې څرنګ په رباعي کښې تربّع په تشبیب کښې تشبّب او عقل سره دَ تعقّل نسبت وي - هم دغه رنګ په غزل کښې تغزل وي او س که بناغلي اباسین دا نهٔ وېل غوښتل چې په ټپه کښې تبب یا تبّب وي نو بنهٔ په سهولت ئې دا وېلے شو چې په ټپه کښې بې انتها خوږ والے او شعریت وي - ممکنه ده چې دَ بناغلي اباسین په دې حقله خپل څهٔ ځانته منطق وي . هسې خو که څوک تغزل ثابتول غواړي - نو په کاڼي هوا ، چینه ، اواز ، ځواني او مینه وغیره وغیره کښې به ئې هم ثابت کړي ولې هېڅ علمي او فني اعتبار به ورته نصیب نهٔ شي . بحر حال دَ بناغلي دې خبرې سره خو قطعاً اتفاق نهٔ شي کېدے چې دَ هایکو دې ارو مرو درې مصرعې وي . باید چې هغوئي دَ هایکو هیئتي ارتقاء په نظر کښې ساتلې وه . بله دَ تعجب خبره بناغلے اباسین دا کوي چې " ٹپہ ۹ + ۱۳ کی بحروں میں ہوتا ہے ۔" کېدے شي چې دَ بحرونو نه دَ بناغلي مراد دَ ټپې سېلابونه یا چپې وي ولې دَ اردو ژبې روزمره او محاوره خو ددې جملې څهٔ بل تعبیر وړاندې کوي او دا غلط فهمي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تړي را پیدا کیږي چې کیني یوه ټپه په ګډو کیدو. څو ونو کښې
بیکلي کیږي نو پکار دي چې بناغلي په دا قسمه جملو نظر ثاني
ضرور کوي. بناغلي دا هم وائي چې په ټپه کښې دوه مختصري
مصرعې وي خو زما د معلوماتو مطابق په ټپه کښې د
یا قربان نه علاوه یوه نیمه مصرعه وي - بیا که هم
بناغلي اباسین په خپله خبره اودریږي او وائي چې نیمه
مصرعه هم پوره مصرعه وي نو بیا به راسره دا هم مني
چې ټپې کښې د یا قربانه سره دري مصرعې وي. د مختصر
لږي مختصر او د دریې مختصر مصرعې په معکوس ترتیب سره. ولې
دا دعوې به هغه رنګ باطله وي لکه د دوو مختصرو مصرعو
د ټپې دعوې.

بناغلي اباسین د فیثاغورث په حواله د ۲ (دوو) هندسه
تخلیقي کړلي ده. او د هغې بې ځایه اطلاق ئې په شعري اصنافو
کړے دے. اوس خدائے دې نکړي که چرې دا خبره او منلے
شي نو پښتانه به د خپلو ګڼو شعري او نثري اصنافو نه
لاس ونه اووینځي. بناغلي دا هم وائي چې ټپې له په هایکو
طلاق ورکول عقلمندي نه ده خو سوال دا راپیدا کیږي
چې اخر هایکو ته د ټپې میړه یا خاوند ویل کومه
هوښیاري ده ځکه چې د طلاق د استعمال حق د لاري لاروي
ته نه وي حاصل. بله اهمه خبره په دې سلسله کښې دا
ده چې اباسین صیب د تنقید په جوش کښې دا هم هیر کړي



دي چې هایکو غریبه خو مؤنث ده او د پښتنو په اسلامي
سیمه کښې ښځو ته د طلاق حق نه وي حاصل. او بیا ټپه
خپله هم صنفِ نازک دے خو ممکنه ده چې دې لړ کښې
بناغلي اباسین څه خفیه قانون سازي کړي وي. ایا دا سې
خبر ونه دا نه ثابتیږي چې د ټپې په مینه کښې ځینې بناغلي
هم د ټپې ښې داکاږي چې د سړي پرې زړه خوږ شي.

ګران بناغلي اباسین خپل کالم کښې وړاندې لیکي!

" ہائیکو کی گاڑی تین پہیوں سے چلتی ہے۔ جس کو ہم دوسرے
لفظوں میں رکشہ بھی کہہ سکتے ہیں۔ رکشہ بمشکل تمام تین سنگل
سواریوں کا متحمل ہوسکتا ہے --------- ٹپے کی مثال موٹر
سائیکل کی ہے جس پر بہ یک وقت تین سے زیادہ افراد بھی
سفر کرسکتے ہیں -------- موٹر سائیکل رکشے کی نسبت
زیادہ ہوا دار اور تیز رفتار بھی ہوتا ہے -------- ہائیکو
ٹپے کے ہاں مہمان ضرور ہے مگر اسکو گھر کا مالک نہیں بنایا
جاسکتا۔ ٹپے سے انتہائی قربت کے باوجود نہ تو یہ ٹپے کا
نعم البدل ہوسکتی ہے اور نہ ٹپے کے ہوتے ہوئے یہ اپنا
وجود منوانے کے قابل لگتی ہے۔" [14]

زۀ منم چې تشبیهه چرته هم ثانوي وي خو اباسین صیب
چې د شعري اصنافو د تقابل دپاره کومه غیر ادبي او عامیانه
تشبیهه راوړې ده. سنجیده ذهنونه به پرې ضرور بد
وائي. خاصکر په تشبیهه کښې چې د متعلقاتو کومه سلسله

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرانستلې شوې ده یا کومه تمثیلي پیرایه خپله کړې شوې ده د تفصیلاتو باوجود بې ځایه او ناقصه ده. خو که چرې لږ ساعت له ورسره اتفاق هم اوکړے شي نو ښاغلے اباسین به دا حقیقتونه څنګه په شا تمبوي چې د رکشې سفر د موټر سائیکل د سفر نه زیات محفوظ او د عزت جوګه وي. ځکه چې رکشه کښې د پردې پوره پوره انتظام وي او دا صفتونه په موټر سائیکل کښې نشته. ښاغلے اباسین وائي چې په موټر سائیکل د درېو نه زیاتې سورلۍ هم سفر کولے شي. او رکشه کښې دا ګنجائش موجود نه وي. خو ښاغلے دې ماته دا اووائي چې اخر داسې کوم ضرورت دے چې په موټر سائیکل د درېو نه زیات کسان سوروي او که چرې داسې هم اوشي نو ایا خلقو ته به هغه کسان ښوني یا کم ازکم اداره ګرد نه ښکاري؟ زما په خیال د وکالت د ډګرۍ ترلاسه کولو نه پس ښاغلي ته دا علم ضرور پکار و چې په موټر سائیکل د ګنجائش نه زیات تنان سورېدل یو قانوني جرم دے خو ښکاري دا چې په داسې مثالونو وړاندې کولو ښاغلے اباسین ټپه چالاني کول غواړي. چې زه ورسره اختلاف کوم.

محترم ښاغلے اباسین دا هم وائي چې هایکو د ټپې کره مېلمنه ده. او مېلمانه څوک د کور مالکان نشي جوړولے زما په خیال داسې سوچ نه صرف تنګ نظري ده بلکې



د لاعلمۍ د پښتنو د تاریخ، تهذیب او د روایاتو نه هم ثبوت دے. ځکه چې پښتنو کره که د سر دښمن هم پناه واخلي نو پښتانه ئې په خپله توره او په خپله وینه حفاظت کوي هم دغه مزاج د پښتو ژبې دے چې یو ځل کوم صنف خپل کړي نو بیا ئې نه پردي کوي. اوس که بالفرض ټپه هایکو د کور مالکه جوړه کړي نو دا خو به د ټپې اعلی ظرفي وي او دغه رنګ په ټپه نوره هم د قدر وړ اوګرځوي. حالانکې حقیقت دا دے چې د هایکو وجود د ټپې د پاره پیراسائټ Parasite نه دے. بلکې هایکو د جهد للبقاء په سفر کښې ځان له نوي نوي منزلونه لټوي. چې د ځنې استثنائي صورتونو نه یو اړخ ته ټپې سره هیڅ مشابهت او مماثلت نه لري بلکې د ماډرن سنسبلټي او جدید حیاتو په حواله هایکو د ټپې نه څو قدمه وړاندې روانه ده. ځکه خو د ښاغلي اباسین دا ضد هم بېخي بې ځایه دے چې ګني د ټپې په موجودګۍ کښې هایکو خپل ځان ژوندے نه شي ساتلے په دې حقله د ښاغلي زبیر حسرت دا تجزیه د لوستلو جوګه ده. لیکي:-

"څه موده وړاندې زمونږ پښتو لیکونکیو د ډرېکه
"څریکه" "ترائیلې" او هایکو غوندې نوؤ
صنفونو باندې خپله طبع ازمائي شروع کړې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دہ. او خپلې کلهې توانائي پرې صرف کوي ګیا دي. دغو اصنافو کښې "څریکه" او "ترایئلې" داسې وُ چې خپل وجود کښې د توانائي د فقدان له سببه یې ځ په وړاندې سفر جاري ونه ساتلے شو او لا یې په سر کښې پوهه نه ده وپشلې چې خپل منطقي انجام یا طبعي مرګ سره مخامخ شو یواځې "هائیکو" داسې تېز او تُند جاپاني صنف وُ چې په پښتنه خاوره کښې یې خپلې جرړې مضبوطې کړې.......... دا جاپانے صنف د خپل مخصوص مزاج، طرز او کړهٔ وړهٔ حامل وو. ولې ددې په ځانګو کښې پښتنو شاعرانو د پښتون بوټي قلمونه ونګول او نن دغه بوټے وده کوي او د ډیوې تنه ورې وڼې شکل اخلي. د پښتنو سترګو ته یې داسې دنګار رنګ ګلونه سپېړدي دي چې ښائست او سینګار ته یې سترګې برېښي."[15]

بناغلے اباسین په خپل کالم کښې یو عجیبه خبره دا هم کوي. لیکي:

"میں ادب کے ادنیٰ مفتی کی حیثیت سے یہ فتویٰ جاری کر رہا ہوں کہ پشتو ادب میں ٹپہ کے ہوتے ہوئے ہائیکو کی بدعت کی چنداں ضرورت نہیں۔"[16]

ګران بناغلے دلته یو وارې بیا تېندک شوے دے. ځکه چې



اول خو په ادب کښې د مفتیانو د سره جواز نه پیدا کېږي ادب څه شریعت کورټ خو نه دے او که چرې د بناغلي دا ارمان وي چې ګني هغه دې د ادب وړبې مفتي او منلے شي نو بیا پکار نه وه چې ځان ته یې د ادنیٰ مفتي نسبت کړے وے ځکه چې دغه رنګ انکسار او افتخار دواړه یو ځائے کېږي او دا عمل اجتماع ضدین ګڼلے کېږي. دا حقیقت دے چې د اعلیٰ د تلازې او د علم د وصف نه سیوا مفتي مفتي کېدے نه شي. ممکنه ده د مفتي اعظم د منصب په وجه بناغلے ددغې غلط فهمۍ ښکار شوے وي او دغه رنګ ترې د ادنیٰ مفتي دا بې لارې کوونکې اصطلاح سرزد شوې وي. بیا هم بناغلي ته دا پته لګېدل پکار وه چې د ادنیٰ مفتي د نسبت سره فتویٰ د منلو او حجت قابله نه پاتې کېږي. خو زما په خیال ګران بناغلے اباسین لوستونکو ته دا وېل غواړي چې ما هرڅه فرمائیلي دي یا زه چې هرڅه فرمایم. هیڅوک یې هم او نه منئ. یا دا هم کېدے شي چې بناغلي اباسین د ادنیٰ او مفتي ادبي مشورو ورکوونکي ته د ادنیٰ مفتي ټائټل ورکوي.

والله اعلم بالصواب.

بیا هم زه نه پوهېږم چې بناغلے اباسین هائیکو ته بدعت په کوم خیال وئیلي دي ځکه چې د تخلیق عمل یو مقدس او سپېڅلے عمل دے. او هرکله چې هائیکو د تخلیقي زړهٔ چاوُدون رازېږېدلے یو ژوندے شعري صنف او ګرځېدو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو بیا ولې ښاغلی اباسین چې خپله هم د لفظ د حرمت منونکی دی دا ناروا خبرې کوي خو داسې ښکاري چې په ګمان ښاغلي د بدعت معنی په سم ډول نه ده منکشفه شوې او د تفهیم په سلسله کښې د ذهني انقباض او عدم سهولت ښکار شوی دی.

د ساهو لیکونکو د څلېریشتم اپریل دوه زرم د روداد ترغځه ښاغلي ډاکټر راج ولي شاه خټک صیب دا سوال را اوچت کړو چې لکه څنګه ټپه په موسیقۍ کښې خپله ځانته یوه پېژندګلو لري آیا هایکو هم په پښتو موسیقۍ کښې ځانته یو داسې پېژندګلو او ځانګړې آهنګ راپیدا کولی شي او که نه.

د ښاغلي ډاکټر صیب په خدمت کښې عرض دی چې موسیقي او ادب دواړه ځان ځانته ځانګړي دي. عموماً هنرمندان او نقادان د موسیقۍ شمار په لطیفو فنونو کښې نه کوي. او ثانوي حیثیت ورله ورکوي. نو اوس که چرې هایکو د موسیقۍ په زیر و بم نغمه نغمه نه شي نو بیا هم د هغې په ادبي مقام کښې هیڅ کمی نه راځي. دویمه خبره دا ده چې هایکو هم غنائیت، لې، آهنګ او ردهم لري نو هیڅ وجه نشته چې سازونو سره دې هم آهنګي پیدا نه کړي په دې سلسلې کښې د ښاغلي محمد ایاز غزل او ښاغلي شکیل نایاب هایکو د مثال په طور وړاندې کېدی شي چې



د زړه راښکونکي موسیقۍ د نشیب و فراز سره یې راز و نیاز کړی دی.

د ذکر شوي روداد مطابق ښاغلي ډاکټر راج ولي شاه خټک دا خیال هم ښکاره کړو چې هایکو په پښتو کښې ځکه خوښېږي او مقبولیت یې بیا موندلی دی چې په پښتو اولسي ادب کښې ددې سره تړه دوه نکې صنف شته. اوس تحقیق پکار دی چې هایکو پښتو ادب ته د جاپان نه راغلی ده که نه جاپاني ادب ته د پښتو ژبې نه ورغلی ده. ولې ښاغلي قلندر مومند ددې خیال سره اتفاق اونکړو او څرګنده یې کړه چې هایکو د جاپان یو معروف او منلی شوی شعري صنف دی. لهذا نه دي پکار چې موږ دې د هر راتلونکي صنف جرړې په خپله خاوره کښې د لټول ضد اوکړو. او بیا په داسې صورت کښې چې هیڅ قرینه پرې دلالت هم نه کوي. زما په خیال د ښاغلي قلندر مومند رایه په دې لړ کښې بېخي درسته ده. ځکه چې هایکو د جاپان د اوږد نظم هایي کایي نه په تجرباتي بنیادونو رابېله کړې شوې ده. که چرې دا وویلې شي چې د هایکو جرړې په هایي کایي کښې دي نه چې د پښتو په اولسي ادب کښې نو مناسب به وي. ولې بیا هم که په دې سلسله کښې څوک تحقیق کول غواړي نو قدغن پرې نه دی لګول پکار. ممکنه ده چې دغه رنګ کښې انکشافات مخې ته راشي.

Scanned by CamScanner

زه منم چې د ټپې غند نه کول خپلې تهذیبي او ثقافتي جرړې غوځول دي. یو باشعوره فرد به هم داسې نه وي چې داسې به او غواړي خو زه دا هم نه غواړم چې هایکو دې د پښتنو په مېلمه دوسته سیمه بې له څه جرمه تهمتي او بې له څه ګناه سنګسار کړے شي. اول زما خیال دا دے چې د هایکو او ټپې موازنه او مقابله غیر فطري ده. بیا مې سوچ او کړو که چرته په دې بهانه د پښتو تنقید جولۍ د بېش بها ملغلرو نه ډکېدے شي نو قباحت په کښې نشته. چونکې د هایکو په فني او فکري ارتقا ما په خپل مضمون " د پښتو ادب کمپیوټر هایکو " کښې تفصیلي خبرې کړې دي نو بې ځایه به نه وي که د پښتو ټپې په حقله هم څه اوواېم.

دا حقیقت دے چې د ټپې کښې توصیفي اړخونه شته خو ځنې خویونه ئې داسې هم دي چې د تجربې او ارتقا ښځې توان نه لري او په ذهنونو یوه ستړې کوونکې خاموشي خوروي. د مثال په طور هره ټپه د " یا قربان " یا " لګه زار " نه شروع کېږي چې د لوستونکي یا اورېدونکي په وینه کښې د یکسانیت زهر خوروي. او ددغې ډانګورو د ملاتړه بغېر یو قدم هم وړاندې نشي تلے. البته ځنې پوهان " یا قربان " د ټپې لازمي جز ونه مني. بحر تقدیر ددغې نزاعي اړخ نه یو طرفته دومره خبره دا ده چې ټولې ټپې په یو



واحد، متعین او معلوم وزن او اهنګ کښې وي او په هېڅ حال کښې د خپلو تړلي شوو اوازونو دائره یا حصار نه شي ماتولے. او د خپلو سرونو له جادو نه نشي راوتلے چې زما په خیال د نرګسیت یو رنځ دے.

ښاغلے پروفیسر داور خان داؤد لیکي:

" د ټپې خپل یو مخصوص او محسوس هئیت FORM بحر یا اهنګ (Rhythm) دے چې په یوه نیمه مصرعه کښې یو ډېر اوږد او طویل مفهوم بیانوي" [۱۸]

نه پوهېږم چې ښاغلے داؤد صیب د یوې نیمې مصرعې په ذکر کښې " یا قربان " په څه مصلحت نظر انداز کوي. بحر نوع زه منم چې په معنوي اعتبار ټپه په کوزه کښې د سمندر بندولو اعجاز دے خو دا هم حقیقت دے که یوه ډېره ښائسته پېغله هم وي او یو رنګ جامه اغوستل ئې وظیفه کړې وي نو د ظاهري لباس یکسانیت به ئې د ښائست د ګڼو اړخونه نه د ذوق او دلچسپي سترګې بل اړخ ته واړوي اوس که هم هغه پېغله د وخت د تقاضو مطابق د نوي فېشن معقول او رنګا رنګ جامې واغوندي نو د ژوند څومره سپرلي به ئې ښکلاګانو ته ګلکول په لاس اودرېدل غوره کړي. نو باید چې د هایکو منکرین او مخالفین د اصولي مباحثو نه قطع نظر خپل قیمتي وختونه بې ځایه د ټپې په وکالت او د هایکو په مخالفت کښې نه

ضائع کوي. بلکې ټپه دې د نووُ، مناسب تجربو سره آشنا کړي او داسې هیئتې، داخلي او خارجي تجربې دې په کښې اوکړي چې د فکرې رفعت سره سره یکښې په هیئتې او ساختیاتي سطح هم دا صنف د تنوع سره مخ شي. خو دا کار ډېر ریاضت، لوئې سوچ او هنرمندانه جرأت غواړي. کیدے شي چې ځنې پوهاند دا هم اووائي چې د هیئتې تجربو او تنوع دا عمل به د ټپې پېژندګلو ورکه کړي. دا هم ممکنه ده چې یو نقاد خوله راپورته کړي چې د ټپې خپل خاص او معلومه وضع د ټپې د بقا او استحکام ضمانت دے او دا چې دا خاص رنګ په ذوق او ذهن بیخي د ستومانئ لرې نهٔ راولي خو زما په خیال په دې ماډرن ایج کښې به دا قسم خیالات محض یو جذباتي رد عمل وي یا د عادي نشئې د اضطراب کوکه به ورته وېل زیاته بنهٔ وي. ما ته پته ده چې کاڼے په ځائے پروت وي نو درونډ وي خو هوښیاران دا هم وائي چې اوبهٔ په ځائے اودرېږي نو ګنده شي او بیا تخلیقي اصناف د کاڼي د جمود خاصیت نه، بلکې د اوبو د روانئ او تحرک د خویونه په خپلولو ژوندي اوسي. ځکه زهٔ غواړم چې په ساختیاتي اعتبار هم په ټپه کښې د بدلون مناسب تحریکونه راتلل پکار دي. ددې وضاحت سره چې دا به د ټپې د ارتقا ځنځې وي نه چې د ټپې د انقطاع. اوکه چرې دغه تجربې د ټپې د روح سره



متصادم نهٔ وي. نو لازماً به خپلې ځنې مضبوطې کړي. ګنې نو په بل صورت کښې به ئې ادب پخپله د نامقبولیت فیصله واورَوي.

دا هم حقیقت دے چې ځنې نوي شاعرانو په ټپه نهٔ صرف تضمین کړے دے بلکې ورله ئې د یو مستقل صنفي شکل ورکولو هلې ځلې هم کړې دي. بیناغلے سعید ګوهر ددغې فارم او هیئت تعارف، په دې ډول کوي.

"دا د ټپې د ړومبۍ مصرعې نه شروع شي او په دریمه مصرعه ختم شي. ددې منځ تر منځه شپږ نورې مصرعې چې د ټپې مضمون سره تعلق لري هم وي. اول شعر ئې د ټپې د اولنۍ مصرعې سره هم قافیه وي. د دویم شعر دواړه مصرعې ئې خپلو کښې هم قافیه وي. دا ددې صنف اوله برخه ده. ددې وزن د ټپې د وړمبۍ مصرعې مطابق وي. دې نه پس دویمه برخه کښې څلور مصرعې سره د ټپې د آخرې مصرعې وي. دا دواړه د ټپې د مصرعې سره متردف او هم قافیه وي ددې وزن هم هغه وي چې د ټپې د آخرې مصرعې دے."[۱۸]

مثلاً:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

اندېښنې مه کوه جانانه

دا خو دې باسي له جهانه

دا به دې کور جوړ کړي په زړه کښې

ستا د ګوګل په بڼاریه کښې

ځان ترې ساته بېخي اوږده لري لاسونه

کړي به خازه ستا د رخسار تازه ګلونه

ځکه خو وایم چې ډېر مه کوه غمونه

اندېښنو خوار کړل تر شودو سپین بشرونه

لوستونکي دې پخپله فیصله اوکړي چې په دې تجربه کښې ټپې د محبوبې د قلا صورت اختیار کړې دے او که نه. او دا هم چې دې شکل ته تجربه وېل پکار هم دي. زما په خیال دې عمل د یو نوزاېدلي صنف د تعارف په قربانګاه ټپه قرباني کړې ده. ځکه چې په بڼودلې شوي صورت کښې په ټپه کښې د داخلي تجربې او هیئتي تنوع هیڅ نمونې په لاس نه راځي او د ټپې خپل شناخت پکښې هم ورکېږي. (لهذا تجربه محض د تجربې دپاره نه ده پکار بلکې د یو صنف د پرمختګ خیال پکښې ساتل لازمي پکار دي.)

هم دغه حال د بناغلي سهیل خټک د مجموعې ټپه ایز هم دے د مستقل عنوانانو تر لاندې آزاد نظمونه لیکلې شوي دي او آخري دوه مصرعې ئې د ټپې وړمبو مصرعو سره په قافیو کښې تړلي دي او بیا ئې د یوې ټپې په ترون



نظم سرته رسولې دې چې د نظم نقطه عروج یا کلایمکس ورته وبلې شي. خو متاسفانه زه به دا اووایم چې د بناغلي سهیل خټک ټپېز هم د ټپې په سترګې کښې هیڅ ارتعاش نه دے راوستلې.

دغه رنګ بناغلي راج ولي شاه خټک هم په ټپه کښې د تجربې په خیال تر خپله حده کوششونه کړي دي. خو دا کوششونه هم کم او زیات د بناغلي سهیل خټک د ټپېز سره مماثل دي.

اوس که زه دا اووایم چې دا ټولې هلې ځلې د ټپې هیئتي تجربې نه دي بلکې په ازاد نظم کښې د ټپې د پیوندکارۍ او قلم لګولو هڅې دي نو زیات موزون به ځکه وي. چې په داسې واړه صورتونو کښې د ټپې په قدیم فارم باندې هیڅ ارتقائي اثر نه دے غورځېدلے بلکې د نورو ګڼو لنډو او اوږدو مصرعو امېزش د هغې جامعیت او اختصار ته هم نقصان وررسولے دے. لهذا دې سلسله کښې داسې تجربې پکار دي چې د ټپې د مزاج تکمله خو وي ولې د ټپې د فطري او فني غوښتنو او خورو ورو امکاناتو دائره نه ماتوي یعنې ساختاتي ارتقا دې د ټپې د فضائي سرحدونو نه بهر نه اوځي چې د انقطاع حد پرې جاري کړي. مطلب دا چې ټپه دې د خپلو کړو وړو مطابق ځان ته د نوي ادبي تحریکونو رنګا

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ جامې ضرور اغوندي. خو د لباس دپاره دې خپل وجود نهٔ لنډ او تنګ کړي. هیله لرم چې لوستونکي به زما په اشاره پوهه شوي وي.

بهرحال د خپلې موضوع نه د یو خاص قسم ګرېز او ځنډ کولو نه پس بېرته واپس راځم. او لوستونکو نه پوښتنه کوم چې دا بحث چې تېر شو دا هایکو بد نهٔ دے. د ټپې په موجودګۍ کښې د هایکو د تخلیق جواز نشته یا هایکو زمونږ د خاورې سره هېڅ خپلوي نهٔ لري. آیا دا بحثونه پښتو ژبې او ادب ته څهٔ فائده ور رسولے شي. او د هایکو په راتلو پښتو ادب ته آخر کوم زیان او تاوان ور رسېدلے دے.

زهٔ دا خبره منم چې هایکو د پښتنو د خاورې نه راز یږېدلے شعري صنف نهٔ دے خو ولې که یو بهرنے صنف د پښتون د تهذیب او کلچر د ارتقا او احیا ذمه په خپل سر واخلي او ښهٔ په ایمانداري سره ئې خدمت کوي نو د پښتنو عدالت به ورله د دغې خدمت ګذارۍ دا سزا ورکوي چې د سر غوڅولو فیصله ئې صادره کړي. کله هم نه ځکه چې پښتانهٔ د خپلو وفادارو په مرګ مړهٔ او ژوند ژوندي وي. ځکه خو د ځنې پښتنو ناقدینو د هایکو سره معاندانه رویه زما د پوهې نه بهر ده.

بهرکیف دا حقیقت دے چې هایکو په دومره لږ وخت



کښې په پښتو ادب کښې ځان ته دومره لوے مقام پیدا کړے دے چې تصور ئې هم نهٔ شي کېدے دغه وجه ده چې ټپه چې زرګونه کاله تاریخ لري او د پښتو ژبې زوړ او قدیم زرخېزه شعري صنف دے. اکثرو نقادانو هایکو سره اوږه په اوږه اودروله او د دواړو تقابل ئې شروع کړو. زما په خیال د ټپې او هایکو موازنه پخپله د هایکو د مقبولیت او بریالۍ کېدو سندنامه ده. ځکه چې هایکو پښتو ادب ته تقریباً شل دېرش کاله اګاهو راغلې ده. چې یو ادبي صنف په دومره لږ موده کښې خپل طبعي بلوغ ته هم نهٔ شي رسېدلے ولې په هایکو د پښتنو په سیمه نهٔ صرف ځواني او ځوبن راغلے بلکې د یوې اندازې مطابق شپږ زره کاله زوړ صنف ټپې سره ئې ناقدینو مقابله هم شروع کړه. اصولاً خو د شپږ زره کاله استېبلش صنف او د شلو کالو د نووارد صنف مقابله هم د عقل او منطق خلاف ده خو ولې که دا سې کېږي نو دا ددې خبرې روڼ ثبوت دے چې هایکو نهٔ صرف د پښتنو د نفسیاتو خبر یاله ده بلکې د پښتانهٔ ئې د خپل ذوق ترجمانه هم مني. ددې باوجود که ځنې خلق د هایکو مخالفتونه کوي نو زیات نه زیات تېر نه دا راز راڅرګندېږي چې هایکو کښې به څه تخلیقي زور پروت دے ځکه چې کمزوري څېزونه د عدم اختلاف باوجود هم ځان ژوندے نهٔ شي ساتلے زما یقین

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے دَ هایکو دَ منکرینو بې ځایه ضد او نه به هایکو دَ اسمان رفعتونه ته یوه نه یوه ورځ خامخا ورسوي دا مبالغه نهٔ ده بلکې ددې خبرې دمخې ځنبې، ژور اثار او ژوندي شهادتونه را ښکاره شوي دي.

او س که زما دَ خبرونه څوک دا غلط تاثر اخلي چې گني زهٔ هایکو له په ټپه فوقیت ورکوم نو دوی به بد به کوي. زما خو دَ زړهٔ له تله دا اواز راپورته کېږي چې دَ پښتو ژبې او ادب لمن دې فراخه شي او هغه ټول اصناف دې پښتو ژبې ته راشي. چې ژبه او ادب پرې وده مومي. ذوق ته پرې تسکین رسي. ذهن ته تفریح بخښي. ضمیر پرې را بیداریږي او ژوند پرې روښانه کېږي.

زهٔ محسوسوم چې دَ ټپې او هایکو ځان ځانته میدانونه او جدا جدا تشخص دے البته دَ ادبي رشتې په اساس دا دواړه یو بل سره په ځنې موقعو مرسته ضرور کوي خو دَ یو بل حقونه چرې هم نهٔ را لاندې کوي او چونکې دَ دواړه مباحثو باوجود دواړه اصناف دَ پښتو او پښتنو سره تړلے شوي اصناف دي نو دَ یو غندنه هم عقلمندي نهٔ ده. بله دا خبره چې اعلی ادب په موضوعاتي او صنفي دواړو حوالو دَ جغرافیائي بندېزونو، نسلي امتیازونو او طبقاتي تقسیم نه بالاتر دي نو دا بحث چې دا صنف زمونږ ابائي صنف دے او دا بل پردے او مهاجر صنف دے او بیا په



دې بنیاد صنفونه دَ خوښې او ناخوښې باعث گرځول هیڅ دور اندیشي او دانشمندي نهٔ ده.

ښکاره خبره ده چې هغه خلق دَ پښتو ژبې او ادب بېخي خوا خوږي نشي کېدے. څوک چې هایکو دَ پښتو ژبې نه ویستل غواړي او نهٔ اوس هایکو دومره ورکه سپکه او بې څوکه ده چې څوک به ورته په کږو سترگو اوگوري.

په درناوي
اظهار الله اظهار
لکچرر اردو څانگه
اسلامیه کالج پېښور یونیورسټي

---

Scanned by CamScanner

# مأخــذات

---


(۱) آزاد اشنغرے، دَ اظهار دَ هايئکو تجزيه، ورځ پاڼه وحدت پېښور، ۹ر مای ۱۹۹۸ء.

(۲) اظهار الله اظهار، راته غوږ ونو کښې بنګړي شرنګوي سلمان پرنټرز جنګي محله پېښور، يکم جنوري ۱۹۹۸ء.

(۳) اسير منګل، ايک نوجوان شاعر، اظهار الله اظهار ورځ پاڼه مشرق پېښور، ادبي ايډيشن.

(۴) مشتاق مجروح يوسفزے، اٴنې اېنټي کو هائيکو، غير مطبوعه.

(۵) اظهار الله اظهار، راته غوږ ونو کښې بنګړي شرنګوي سلمان پرنټرز بابو جهېدر روډ پېښور، يکم جنوري ۱۹۹۸ء.

(۶) اسير منګل، ايک نوجوان شاعر، اظهار الله اظهار، ورځ پاڼه مشرق پېښور، ادبي ايډيشن.

(۷) مشتاق مجروح يوسفزے، اٴنې اينټي کو هائيکو، غير مطبوعه

(۸) ايضاً ايضاً 〃

(۹) ايضاً ايضاً 〃

(۱۰) پروفيسر داور خان داوُد، روايت او جديديت، ص: ۹۷ تماس پښتو کوټه، سلسله نمبر ۶، کال ۱۹۹۶ء.





(۱۱) پرېشان داوُدزے، ورځ پاڼه وحدت پېښور

(۱۲) خبرې اترې، پښتو اکېډمي، وخت يوونس نيي جي، ۱۹۹۷/۱۰/۱۹ -

(۱۳) اباسين يوسفزے، ہائے کيوں، ورځ پاڼه مشرق پېښور، ادبي ايډيشن ايضاً 〃 ايضاً 〃

(۱۴) 〃 〃

(۱۵) زبير حسرت، ادب زار، ورځ پاڼه وحدت پېښور ۲۳ر فروري، کال ۱۹۹۸ء -

(۱۶) اباسين يوسفزے، "ہائے کيوں" ورځ پاڼه مشرق پېښور ادبي ايډيشن -

(۱۷) پروفيسر داور خان داوُد، روايت او جديديت، ص: ۹۲ تماس پښتو کوټه، سلسله نمبر ۶، کال ۱۹۹۶ء

(۱۸) سعيد ګوهر، "دَ پښتو شاعرۍ او ووهٔ اصناف" اولس کوټه ص: ۲۹ تا ۳۷، نومبر، دسمبر کال ۱۹۸۸ء -


نوټ:- حواله نمبر ۱۸ دَ مقاله نګار دَ مقالې تلخيص دے چې د نګران پروفيسر داور خان دَ قلم کاوش دے. لهذا دَ هغوي په شکريه او ډېره منته -

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر ګنهګار يمه خو ما او بخښه
ربّه منت کومه ما سره بس
له مرګه پس حساب کتاب مه کوه

اې دَ کلهم انسانيت رسوله
تا چې ښکاره کړهٔ دَ ژوند ټول رازونه
ربّ سلسله دَ نبوّت ختمه کړه



زهٔ مه سنګساروه کړه پروا نشته
پکار نهٔ دي داسې چې دې په مرمه
خوند نهٔ کوي کښې په لاس دَ ګل کاڼي

شو پورته يقين نه هر څهٔ له مې نن
کوي فرق کښې بچو هم چې ميانديې
غور ځوم ځان ته دَ چاجولۍ به اوس

وطنه دَ پښتنو وران کړه دې ربّ
دي نهٔ پاتې دَ ژوند غنيې کښې در اوس
اچوي لاس ته مرۍ دَ پلار زامن

راشه په چم کښې دښمنې جوړې کړې
ځان کړې ناجانانه بیا مې نهٔ پېژني
نور به دَ ښکلو په سر شر نهٔ کوم

مرګ دې دَ داسې پښتنو پرده شي
چې دَ انګړ ګلونه اوشوکوي
ترېنه ظالم له ګلدسته جوړه کړي

څهٔ په سکون سره ژوند ون تېروُم
یو خوا پېټې کښې او بهٔ خور کومه
بل پله اور بل کړم دوُمه واچوم



چا جینکۍ په لاره کړې نهٔ دي
وېښل مې سترګې به اوس نهٔ پټوي
ورته زما دَ وینې ډِرپ ختي دے

وائي جانانه بې اسرې مې نکړې
زهٔ به ګیله څهٔ دَ پردو نهٔ کوم
چې خپله مور راباندې کور ورانوي

پرې به هوارې کشالې شي بلا
که دَ خېرات نه دَ خانانو دَ مرګ
غریب دَ خپل وادهٔ ډوډۍ سازه کړي

چې دې یوازې کړم په نیمه لار کښې
نو زهٔ له ځانه داسې ورک شوم لکه
دَ میاندو غېږې چې خالي پاتې شي

بل څوک به څرنګ رانه تاخېلوي
دومره پاسته کهٔ دې خوږ کانړي وو
نو ګېدړانو به وو تېول خوړلي

شمېر زهٔ دَ کلي شریفانو کښې یم
څوک چې لوټم هغه مې قدر کوي
شمله چې جګه کړمه غلا له ځمه



یم بې روزګاره انهړویو له ځمه
مینه کوه خو راتړغاړه نهٔ شي
چې دَ جامو استرې مې ماته نهٔ شي

بازار کښې ګرځي ښهٔ ښکاره مخونه
خو مونږ چې اووینې څادر کړي په سر
زمونږه ښځې مونږ نه ستر کوي

شېرینې ښهٔ دا ده چې زړهٔ کړو صبر
اوس دَ انصاف طمعې له چانه کوې
غلهٔ دَ قاضي کور کښې پناه اخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر که دې سر نه لوېږه پرېوته
چې طوفانونو کښې راکېږ شي د زوند
څوک به له یو بله سترونه کوي

بیا په وطن کښې زلزله راغله څه
پېغلې له کوره په تلوار راووځې
رب دې جوړې کښې زمونږ خېر واچوي

د للمې ګل له خو باران اسره وي
شپېږې تېږې به راځي نه په ما
چې پېغله ناوې رانه مور کړه ځي



نو زما شونډې به پټرې نه نیسي
زه چې نامه د خوشبویو اخلم
د ګل په څانګه باندې اور اولګي

ستا بې رخي د هېرېدلو نه دي
چې تصویرونه دې هم ګورمه نو
وېم که مې تږول کلے په کانړو اولي

وائي زما غریبي بدي نه شي
خو ساه مې اوځي چې د چم جینکې
راته ودونو کښې کالي پسخوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لوړو تندو يُې پروا نشته دے
وائي په کېږه دې نصره يم خو
راله پيدا چرته دَ سر سپورې کا

اومنه دا خاطر دې جمع لره
مينه زما دَ غلو ښتا خو نهٔ ده
چې يُې په لاړو کړ کوے ښيرينې

دا چې په خهٔ فريب کښې کېږه يُې ته‌ٔ
ستا سر تېزی به هله ما منلې
که دَ اوبو لاره په ژرنده نهٔ وه



په پټو سترګو پرې باور مهٔ کوه
شيرينې پام کوه چې تېر نهٔ اوځې
دَ مُلا منډه دَ جُمات پورې وي

محبتونه مجبورو اوخوړل
ځومره سنګينه حادثه ده دَ ژوند
شيرينه ژاړې چې مې سرغوڅوي

بې ځايه نهٔ دي ويرېدل دَ ښکلو
زما دَ تندې انتها داسې ده
بُت هم ربېږي چې زهٔ ساه اخلم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښار د ړندو دے تا ته ښه ده پته ده
ته د کڅو ولونه مه پرانیزه
تور د سپوږمۍ په لمن پوري نه شي

رب دې کړي خیرخو دا شګون ښه نه دے
پیغله ډولۍ کښې هغې کور ته لاړه
پلار چې ئې چاله دې ځوانان وژلي

څه ننګیالي دي قاتلان د سیمې
د سر ساتلو په بدل کښې مدام
لونه جولۍ ته د دښمن غورځوي



ناپوهي خیرخو بې حسي خوره ده
بُت خو ساکاني اخستلے نه شي
څوک یه په کاڼو کښې قلم نکوي

خاورې یه پوے شو د تعلیم په مزه
ماز یګرے چې شي چیو ته د سیند
کتاب ورلړه کړو ګلان راښیو

ځان کښې څوک توان د تماشې نه لري
بس د هوا په لور روان دي زغلي
څوک د پېریانو په ډولۍ پسې ځي

Scanned by CamScanner

ستېتس زمونږ د لارې خنډ خو نه وسے
چې اشاره ورسته ذره اوکړمه
نن د بنګلې ناه په یو دَو را اوځي

زړهٔ اخر صبر کړي سلګو کښې واڼي
کوه چې هر څو سره مینه کوے
خو شې له ځان کور ته را اورسوه

په هیڅ فریب دلاسه کېږمه نه
کټ چې پرده شو خوږ نیمې شپې شو
ستړې مې نهٔ ورځي که ډېر ستړے یم



زړهٔ کښې ئې اور د مینې بل ځنګه شي
د چا په کور کښې چې شپېږي زما
لوږه ژوندي انغري مړهٔ پراته وي

ځمه ملام د هواګانو په رُخ
یم د بېړیانو د ډولۍ په مثال
ځان راته مهٔ سپاره بې کوره نهٔ شي

شونډو ره مې رو رو دَ بخې شنه کېږي
اوزهٔ به دې سوچ کښې راګېرمه چې
دوه تورې یو تېکي کښې ځانځ ځنګه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



داري وهمه سرچينه يم دَ ژوند
تا به لېدلي وو رنګونه زما
خو که دې سترګې پټې کړې نړوي

○

زه خو دنيا ته فرښته ښکارمه
ږيره له دغې ويرې نهٔ خرايمه
چې اصل څخ مې راپه ډاګه نهٔ شي

○

څه بې حسي ده په ماحول کښې دېنار
پراته دي قتل تورياليِ دَ وطن
زه هغې مون باندې ښکم سره ځم



اوس به په دې کښې تاته څهٔ وايمه
زار شمه ستا له سادګۍ شيرينې
مني زما او خو ښه خپله کوې

○

دَ برسنلړې ګل ئې شيرينې زما
که په جبو کښې هم مېښته ئې مدام
تور به دې پورې په لمنه نهٔ شي

○

چې دې بهر کړو له دُرشله قدم
په مرګ حساب شولې شيرينې زما
خولې ته تو کلې لاړې نهٔ راځې بيا

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



واڼې ځواني به مې په کور زړه کړم
خو بې ننګۍ ته غاړه نهٔ ږدمه زهٔ
ځم به مې اوس کفن کښې هم نهٔ وینې

نن یوې ښځې خپل خاوند ته وئیل
سختۍ بې ځایه په ورو مهٔ کوه
تهٔ چې زلمے وې تا به څهٔ نهٔ کول

له سپینې ږیرې دې حیا راځي خو
مهٔ وایه دا چې فرښته یمه زهٔ
تهٔ څو مره وران وې تا ته ښهٔ پته ده



دَ حقیقت دنیا کښې ژوند تېروم
په تسلو دلاسه کېږم مه نه
زهٔ دَ ځوانۍ دَ خوب تعبیر غوارمه

بلا ختلي دي په سر رقیبان
خدائے شته چې نور ورته هیڅ نهٔ وایمه
خو لږه منډه ترې ضرور خلاصوم

دَ مینې لار کښې چې تیندک شمه زهٔ
شیرینه اووائې په خود کښې اوسه
داسې دَ لوړې نه په دَو ولې یې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا قافلې دې په سفر کښې اوسې
خو کومه لار چې د منزل لاره وه
وائې چې نن هغه سېلاب يوړله

شيرينه وائې له تا زار شمه خو
واده د ټول عمر سودا ده کمله
دا خو زما او ستا خبرې نه دي

زمونږ نصيب زمونږ په لاس کښې نه دے
وائې که اور ته مو هم واچوې نو
د مشرانو فېصلې به منو



ما څه غوښتلي وو او دا څه اوشو
نن مې له هر څه نه باور پورته شو
چې مې د مړې کېږې چيچل اوليدل

دلته انصاف د چينده خانو تول دے
پرېږده که داغ دې په لمن پرېوځي
سر به دې اوبايلې که پوزه ګټې

اووائې خپل عزت پخپل لاس کښې دے
چې شوکوې مانه زما لوېټه
نو ستا شمله به څنګه جګه ساتم

Scanned by CamScanner

غوښتنې ستا تورې ښځې داسې دي
لکه چې چرګه څوک په زور اونیسي
او ورته اووائې هاګۍ واچوه

منم دَ مینې تقاضې منمه
قسم دې ما به هیڅ ویلي نهٔ وو
خو واړه چې خولې مېږو اوخوړې

ځوانه ځوانې او دَ سپرلي مازیګر
داسې په یو بل کښې غرق شوي دومونږ
چې دانه ورکې دَ خپل کور لارې شوې



خلق دې کار کښې زمونږ کار نهٔ لري
حد کښې دې اوسي ګنې ښه به نهٔ وي
مونږ خو په بیعه ځان له شر اخلو

تېښته دَ ژوند له تقاضو نهٔ کوم
هر څهٔ په سر سترګو منم شیرینې
خو ګوره اوبو کښې دوبېدل ښهٔ نهٔ وي

خدائې شته دښمن مې خوشحالېږي په څهٔ
دا خو مې لویه دَ ژوندون ګټه ده
چې محبت کښې مې تاوان کړے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



منم فریب دې خو صحرا کښې د ژوند
ستا څوانۍ مړک مسکۍ مسکۍ ګوابښونه
د محرومۍ احساس په شا تمبوي

ځان پټېل زور باندې ژوندے ساتمه
ګنې نو زۀ خو د قاتل اوښکه یم
ماله به څوک په زړۀ کښې ځائے راکوي

ژاړې له سره لوپټه درې کړي
واخلي بصر له کوره شپې مۀ کوه
ګنې نو ځان حلالوم لالیه



دومره پوهېږې نه ماشومه ده لا
ځان ترې بچې ورک شي چې ما اووینې
لا حادثو هوښیاره کړې نۀ ده

څوارلس کلېزې پېغلې ماته ویل
پوهه په بخت ده په عمرونو نۀ ده
تا به دا خپلې تجربې دهوکه کړې

خوشحالېدم ورته بې ځایه هسې
چې د کېرړې تبسې مې اوليدلې
پرې مې کړې مۀ ځان له د بربتو څوکې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه کښې له کوره پېښتي نه اوځي
مرګ دې روا دے خوشحال خټک کاله ته
د نمر خاته نه مخکښې ځان رسوه

زما د زړهٔ داغونه پړق اووهي
سپوږمۍ چې کور جوړ کړي نو توړ د شپه بيا
ما سره ستورې پټ پټونې کوې

بې وفا نهٔ يم خوږ ښريني زما
د زاڼو سيل چې را روان اووينم
زړهٔ زما هسې په هوا غوندې شي



پړ پړ دوه خټکه په تا مللا وتړم
وس چې دې اورسې بې خوندې نو ته
د خپل مېړهٔ خبره هم نه منې

هرو قلم ترې راخستلے نهٔ شم
ماشومه سازه کړي له ځانه وائي
راله په لاس باندې ګوره جوړه کا

ددې خبرې په مطلب نهٔ رسم
وائي چې ستا نه زهٔ اوزګاره شمه
بيا به ښاروو ته بوتاوه کومه

Scanned by CamScanner

خو چاته څۀ او چاته څۀ بانه ښي
د ښلو ژرندو که راوتې وې خو
کېږ شوې آخر د لوېتې پسکي کښې

خلقو په ما بدګمانۍ کړي دي
ثابت که يو جرم هم نۀ شي په ما
زۀ به له دې کلي نه کډه کوم

نوره مې هيڅ باندې پروا نشته خو
چې ستا تر دره مې در اورسوي
عقلونه زار شه له هغې تيندکه



ګرانه شوه ډېره د پښتو يارانه
پلار يې په موږ باندې جرګه کړې ده
لور يې د شپې تيارۀ کښې کور پرېښے دے

غلۀ راختلي دي په کور، غلي شه
سوچ ته مې پرېږده که څۀ لار راوځي
خلاص به له سره شو غوبل مۀ کوه

راوړي چې ماله پلوشې د سحر
څوک يې پلوۀ قدرې هم اونۀ وېني
کور ته د شپې تيارۀ کښې ځان رسوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



طوفان یې یوسي جولۍ ته د چا
واڼې نور وړاندې مې نظر نۀ لګي
لاس راله راکړه کنې غرقه شومه

○

په ژوند کښې ګټه او تاوان څۀ وي لا
پرېږده چې غرق شومه پروا نشته څو
چې د وادۀ ارمان مې اورژېدۀ

○

مور یې نن پلار ته په حیرت اوویل
خدایه شته چې لور مو وادۀ کړې ده نو
اوس هرو مونږ کره مېلمه نۀ راځي



اووائي نۀ پورې کوم نکرېزې
رانه چې بل وطن ته ځي مېلنه
نو سره لاسونه دې په شرق اولګي

○

د پښتنې کومه ادا اوښتایم
په کومه ورځ چې زۀ په کور کښې نۀ یم
له آئینې نه هم سترونه کوي

○

څوک ورته پوره هم کتلې نشي
آ چې سرتوره را اوځي له کوره
ټول چاپېرچل شي لوپته لوپته

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساړهٔ ساړهٔ اُهوونه شاله کوې
ستا د خولې تاؤ چې راپورته شي نو
اوبهٔ اوبهٔ شي ټول د واورې بتان

زهٔ څهٔ تپوس کوم او ته څهٔ وائې
یوه خبره دې هم روغه نهٔ وي
تا جوړ په اوښو باندې سورلي کړېده

خو ښاه دې خپله ده خو یاد اوله
ګرځې به تل خاورې په سر سپونې
چې د خاوند سترګو کښې خاورې نولې



د ښار ماحول درنه څادر لرې کړو
یاد کړه جهاز چې به راپورته شونو
شوې به کوټې ته په یو دوَ دننه

واڼي بې ځایه طمعې مهٔ کړه له ما
اوتړه دا ټټو په سپورې ګنې
څوک په سپوا مانه خرابه نهٔ وي

زهٔ ئې له ځان سره حیران کړمه نن
ما چې ترې اوکړلو تپوس دَ عمر
پېغلې اُنګي کښې په خرپوسو شولې

Scanned by CamScanner

يم د تعبير د بلاګانو خوراک
په کوم فريب باندې دهوکه کړم ځان
ياران په بېړه باندې پياز کړ ځوي

دا ښه انصاف دے آفرين شه په تا
يو خوا اوښان خلق په بېړه وهي
بل خوا څوک ګفت قدرې کولے نشي

پردي وطن کښې مې زړه خورغوندې اشو
له ځانه ورکې ښائسته پېغلوکې
مسافران درته يادېږي کنه



مهمه دا چې ستا د زړه ننه يمه
خو چې زما ګرېوان ته لاس اچوې
نو ستا شمله به شو کومه له تا

ستوري په ما باندې بيخي توري دي
کورته په ډېره موده پس راغلمه
په سرو جنازو مې استقبال مه کوه

دومره زړېخلې يم د ژوند حادثو
اونه چې هر کور کښې مېوه اونيسي
په ما د کانړو بارانونه کېږي

خبرې پټې پاتې کېږي کله
مېرمنې تاکه شونډې اوګنډلې
وائي خوشبو ستا د بدن رازونه

خولې راته وازې حادثې اونيسي
له کوره ورک شو چې له کوره اوځو
مونږ د ژوندون په کوم پړاو پراته يو

ما ورته وېل چې کله مه پرېږده خو
منې کېده نه ځکه تېر ماښام يې
د ښار په چوک کښې خودکشي اوکړه



خاورې د پکنک په خوند بوئ شمه زه
ذره هم خپل سىي ته نه پرېږدي ما
شېرينه ماته مېلوګان ګسېږدي

دا نه چې پوځ نه يم په سود او په زيان
خو چې خبره د پښتو راشي نو
زه به په چتې پسې باز پرېږدمه

منزل ته کښې مرحلې پاتې دي
لا د کمڅو ولونه مه پرانيزه
چرته تيارۀ لار کښې تيندک نه شمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

خدای شته په خپلو کښې څه پس پس کوي
څانونه غلي کړي چې ما اووینې
څه راز داري خو شته د مور او د لور

زه چې د سیند چپو ته کورمه نو
راشي په سترګو مې لاسونه کښېږدي
وائي څه اووایه چې څوک یمه زه

بنه روغ رمټ یم چې بیا یمه زه
کور ته چې راشم نو بې حاله شمه
چا جوړ په ما باندې تاوید کړے دے



د احقیقت د چا ده پټه خو نه دے
د رنګ سپړلو پسې ړندېږو څکه
موږ په صحرا کښې اوبه خوړ کړے دے

موږ به سپوږمۍ ته دوه قطرې ختاي
افسوس خو دا دے چې زموږه د کور
درشل که اوړېږي د دیوال پرېوځي

بنګړي په لاسو کښې په خیال شرنګوه
چې په سینه کښې مې غورځنګ راشي نو
په دریابونو کښې کشتۍ لاهو شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان چې دې ما باندې ناجانه کړو، نو
نور به سپوا له دې نه څه وایمه
بنګړې دې مات شه د پېنزيبو سره

دردې ستم به څه تعبیر کوې څوک
ښه چې مې غرق کړې نو شېرینه وایې
توبه توبه داسې به بیا نه کوم

چې هلو ځلو کښې د ژوند کړې شوې
د میاندو تینو کښې شوده اوچ شولو
دا نوے نسل به په چا پسې ځي



غم زمونږ ټول ې خوشحالۍ اوخوړې
عمرونه اوشو چې زمونږ وطن کښې
ختمې روژې شي خو اختر رانه شي

ورسره دېرې معجزې دي منم
خو زه د ښکلو نه تپوس کومه
د زړه د رنځ علاج مې چا سره دے

دا لېونے یوه پوښتنه کوي
ستاسو د ښار په نرګسي فضا کښې
څوک شته چې لاس کېږدي په سر د یتیم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره خوږ حق شته په دې ښکلو زما
چې يې په زړهٔ پورې ښهٔ کلک اونيسم
دَ ښائسټونو ، دَ جمال شاعر يم

دې کښې به راز څهٔ وي پوهېږمه نه
په سمندر چې بارانونه کېږي
او سوزې تندې نه زمونږ فصلونه

خاورې په سر باندې انبار شه په زما
وېښل مې چوک کښې چا بربنډ کړمه جوړه
مور چې دَ لور له سره شال رابنکلو



څوبه په خپلو کښې پښتو کوو مونږ
څه چې ارمان دَ زړونو اورژوُ
څوک دَ اختر په ورځ روژه نهٔ نيسي

ساه راله ډوبه دَ سپرلي هَوا کړه
اوس دَ الفت طمعې دَچا نه اوکړم
دَګل سينه کښې هم دَ کاڼي زړهٔ دے

دَخدا ـُ نه اوېرېږه ، غلے شه بس
سکنې ماښام دے لاړو نمر پرېوته
خوله به دې ګونګه شي خبرې مهٔ کوه

څوک ترې خبر دي
د ژوند بلا غمونه
زما په سر دي

اوبدې مړهٔ شو
خو ملکان د کلي
د لوبدې مړهٔ شو

څمه چې وړاندې
نو اسمان هم راکوز شي
او بو ته لاندې



قد مې لوړېږي
او جینکۍ د کلي
ما ته پښځېږي

غم مې لږ سپک شو
ما اېښې ته کتل
ځان رانه ورک شو

مخ مې بد رنګ شي
چې پېږې هوا اوګلي
آئینه زنګ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور دے سینو کښې
شپېلېنې مه ډوبېږه
په ګوټ اوبو کښې

ځان باندې تنګې
پشکال غرمه شوې
وه سپړلي رنګې

لوټ شو اخلاص کښې
اووایه پاتې څه شو
د ګل په لاس کښې



ستا به تلوار وي
خو که د پلار وي نو هم
ژرنده په وار وي

څوک وارخطا دي
راته چې وائي دروغ
وایم ربښتیا دي

پېغلې چې پاسي
د ډېرو خولو نه ورته
لاړې راځي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مېنډوګي شړېږي
په هر قدم غوڅېږي
د خلقو خبرې

اور کښې اغښتي
ستا تصويرونه ګورم
خوب رانه تښتي

ګور ته دې زړ ځي
ژړنده د سوال پياله ده بو
چېرته کښې ګرځي



په ټال چې ځانګي
ځنې زړه ستړې پېغلې
اور ته وردانګي

ځکه چې دې بنګل کړم
خدايه شته د هرې سيمې
خاورې به ګل کړم

نيت دې خراب دے
ګڼې شو هر وګړے
ګل د ګلاب دے

Scanned by CamScanner

ساه اوځي مانه
په کومه لاړلې تهٔ
دَ زړهٔ درمانه

منزل دې ورک شي
په ټوله لار چې سړے
له پښې سپک شي

څنګونه کېږي
په توېودو دَ وينو
تندے ماتېږي



ويني به تل څڅکي
چې دا ښارېان هميشه
پې دَ يوتل څڅکي

نمر چې پرېوځي
ستا له ګرېوان نه زما
لاسونه اوځي

بل په ما اور دے
دَ اوښکو دوو څاڅکو کښې
ئې څومره زور دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر دوستانه زيات شي
زړۀ مې په واک کښې نۀ دے
سر به مې مات شي

○

باران دے ورېږي
په زړونو اور بلوي
وينې خټکېږي

○

سپرلي چې لاړ شي
هر څوک په غم اخته کړي
ګلې ويجاړ شي



يو خوب او خيال دے
کارغۀ زده کړے کله
دَ زرکې چال دے

○

دا ښۀ ناتار دے
اوس هر يو کور دَ کلي
دَ ښار بازار دے

○

زړۀ مې غرقاب شو
دَ اوښکو يو څاڅکے هم
ما ته درياب شو

Scanned by CamScanner

خوشې فنکار ئې
د پېغلو بُت سازوې
هسې اوزګار ئې

غرق شولې لارې
خوراک او څښاک چې کوې
اوس په ولارې

هسې به ونړشي
چې ترې اوبه نهٔ اوځي
کومې به شنړشي



شمارې بس ستورې
د شپې راپاسوې ما
کار داله ګورې

کښېنه کم بختې
څوک دې مېراته نکړې
د ګلو لښتې

سندرې وائې
را ټول دې نهٔ کړمه زهٔ
مړ شومه هائې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس په هر لوري
اور مو په سر وروي
د اونو سپوري

او وائي پوے شوې
ته چې مشين شوې په ما
لاړلې توے شوې

تیکاله غواړي
لمبه چې نکړم تنور
بچې مې ژاړي



کور مې زړه تنګ شي
چې نيمه شپه چړ کېږي
د بنګړو شرنګ شي

اوس هسې ژاړې
ته راځې خولې ته بېرته
توکلې لاړې

دا څه قيامت دے
ځواني دې شوخه ده او
تصوير دې نت دے

Scanned by CamScanner

خوښې دستور شو
پاڼه چې ستا زیړه شوه .
نو ځ دې سُور شو

○

کور کښې تنها یم
اوس به د زړهٔ زخمونه
چا ته زهٔ ښایم

○

ژوند څه رنګین شي
وریځې تښتي په شا
اسمان به شین شي



وائي کوکو یم
راته پښتنې تپې
زهٔ هائیکو یم

○

قصه خانې کښې
ښکاري ګکارهٔ مخونه
په آئینې کښې

○

یم په وسواس کښې
ګلونه مړاوي نهٔ شي
د چا په لاس کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

ستا چې ښکالو شي
د زړهٔ درزا تسخیره شي
هَوا پهٔ رو شي

ځې زما سپورے
وائي هر څهٔ منم خو
راته به ګوري

ژوند څومره تریخ دے
ذهن اوده دے پهٔ خوب
او زړهٔ مې ویښ دے



راته جختېږي
وائي غني ډېره ده
واورې ورېږي

سم له ماښامه
شفق شفق خوره شوه
یو ګل اندامه

زما حیا ده
منم چې لور ستا ده خو
ښځه زما ده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پڼړونه نغښتي
پېغلې را ووتلې
له کوره تښتي

○

ښکاره به غلا شي
تا ته چې ګورمه زه
وار مې خطا شي

○

زړونه درزېږي
چې آیینې جوړېږي
کاڼي ماتېږي



ژوند مې رنګین شو
راکړې مستي راغلې
سر چې مې سپین شو

○

اوبه دې زور شه
چې ماتوې حدونه
څه ځې دې تور شه

○

سر که مې سپین دے
په هېڅ هم نه پوهېږي
سودم ته شين دے

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ کلي خلق ځکه راځي خو نه دي
خدایه شته مري ته به دي لاس پري ځي
چي دَ هتیانو غلا په ټیټه کوي

اووائي ټول دَ اکیټمن کسي دي
ایټکو ته هسې خوشحالېږي ځله
څوک لېونې نه دي چي تا یادوي

زړه غوښوي دَ اوازونو فرېب
چي مېنانو نه نغمي هېري شوي
نو په پنجرو کښي ئې مارغان بندي کړل



څو مره سنګینه حادثه ده دَ ژوند
ځېږي مو اوخوړي جذبې دَ وفا
یو بل ته اوس دَ مینې خط نه لیکو

دَ ځېل بنایسته له زوره نه دي ځبر
دراز قامته، جادوګري پېغلي
ډېر مي کچه کړي چي منتر پوهوي

شپیرینې تا سره له دغې ویرې
وادهٔ ته غاړه اېښودله نه شم
زما به تا سره کوېږدن ماته شي

Scanned by CamScanner

دا کتیبې ونه په نظر کښې لره
زه به له خپله کوره ورک نه ؤمه
که هره لاره د منزل لاره وه

نن یوې پېغلې خپلې مور ته وېل
بیا به د خېر طمعې له ما نه کوې
چې زوړ سړي ته مې په زور وادوې

چې مزدورې په کومه ورځ اونه کړې
بچې ئې تږوله شپه د لوږې ژاړې
د مزدورانو ورځ دې نه نماځې څوک



دا سې ښاغلې هم لیدلې دي ما
ځانونه لوټ کړي په ادا د ږمو
او خپلو ښځو له جامه نه کوي

چې ئې زما دیدن را یاد شي کله
بلې ته او خېژي په سره غرمه کښې
زر د کونتړو سېل را والوځوي

ناساپې کړیکه کړي نیازبینه وائي
د زړه په سر مې په ټوپک اوو له
خو چرمځکې په لاس کښې مه رانیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ زړهٔ درزا مې په اختیار کښې نهٔ ده
ښار کښې جوړ اوشوله دَ بم چاوَدنه
دَ کور تمبه دې په یو درز دړې شوه

یوسمه چرته دَ ارمان جنازه
تا چې دَ کور ورونه بند کړل په ما
ماله به څوک په زړهٔ کښې ځائے راکوي

یوه جګړه کښې زمونږ دَ ګلې
خلقو رانښکل دَ ادیرې حدونه
ټول بیا دَ یو دَ بل په حد کښې مړهٔ شو



بې ځایه ما سره ایرې مهٔ وهه
ږمه بس ږمه وي که هر څهٔ وائي
نهٔ دَ چا لور وي او نهٔ خور وي دَ چا

دَ پښتنو پېغلو ثاني نشته دے
چې څوک ئې اونهٔ کړي تپوس نو خپله
ګلاب ګلاب ځواني په کور زړه کړي

دَ ستومانۍ زېږکې ئې خولې نه وتل
چې ستړے مهٔ شے ورته ما وویل
دَ لېونۍ شونډې یو رپ اونیوې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغله چې مانه اښتروېو اخلي
ساه په سکېندو شي ځه په کراره واخلي
ستا سوځه خیال دے ذ وادهٔ پاره کېږي

په چاپېر چل کېږي خرابه دومره دي
په کومه ورځ چې پرې سختي اونکړم
وېم که په خپله ښځه ظلم کوم

سر مې قربان کړم خو ذ چا دپاره
دلته چې قدر ذ جذبو نشته دے
ختې به څوک په درسال کېږي کوي



ته ذ ژوندون ذ مایوسو علاج یې
خورې ورې زلفې خورې ورې کا
چې انتظار څوک ذ سحر ناکوي

داسې نڅوره کړم از مینښتو نو ذ ژوند
شپې یې ستا خانه بد وش یادونه
اوس ذ زړهٔ دشته کېږي پراوُ نه کوي

الله دې خېر اوکړي په صدرچوک کېږي
ګاډي ګنیا دي اشارې ماتوي
او هسپیان خپلو کېږي ګپ لګوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرم دَ چا، سزا دَ چا لوېږي دا
يو دَ پوليس له ستر ګوځان ساتي او
بل په يوه پيسه قانون خرڅوي

سپک راته مهٔ ګورئ کله غږ نهٔ کوو
ګڼې خوبونه به مو هم کړو حرام
موږ دَ چا ميراث خوارهٔ خو نهٔ يو

زړهٔ يې غلبېل، زلفې يې تار په تار وي
وېل يې زهٔ ډېره بې خونده يم
ګڼې نو تهٔ هم هېرېدې شې له چا



دَ حُسن زکوٰة اوباسه شيرينې
څکه نازلېږي اُفتونه دا
چې په وطن کښې څوک خېرات نهٔ کوي

سر به بې ځايه درله څهٔ خوږوُم
دَ پښتنو له هوښيارئ نه لوګي
کورونه وران کړي چې جګړې سازوي

په څهٔ پوهېږې نه ماشومه يې لا
دروغ رښتيا به دې ښکاره هله شي
کله چې ستا ځواني مېوه اونيسي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس رالره مهٔ راوړه نادانې جینۍ
بلا کړمې دهٔ په وجود کښې زما
پام چې پېترۍ چرته لمبه اونکړي

ډېر تورزنان به داسې هم اووینې
چې ئې سرکند شي دَ ګناه رازونه
نور زر په خپله ښځه تورپورې کړي

شهرینه اوواښې په ډېره مینه
چرته خو لار غلطوه لاڼیه
ویرېږم لار چرته غلطه نهٔ کړم



چې خځهٔ بلا ئې تهٔ بې حسه جینۍ
زما د زړهٔ دَ قیامتونو درزا
خدائېګو دَکانې بت کښې ساه راولي

یې دَ سرو سپینو خزانه شیرینې
درته خراب دَ چا نیتونه نهٔ شي
کمڅۍ را اوسپړه، ماران پرانیزه

دا نظر ونه به تیندک خوري ضرور
ستاسو دَ ښار کڼو وړو لارو کښې
وهٔ کلالۍ سم کړ خپلے ښي څوک

Scanned by CamScanner

دَ ژوند دَ حُسن ننداري څهٔ کوؤ
درانهٔ پېټي ونه مو پراته دي په سر
کالهٔ ته څوک چرته ملا نېغه کړو

پرېږده چې پېغلې ځي په خپله لاره
چېره ئې مه کښې ستومانه به شئ
توري ځلې دي که راپاري شولې

وایم چې تلې ستومانۍ به اوځي
خو ولې دا ارمان مې اونهٔ رژي
کور ته چې راشمه نو لا ستړے شم



شیرینه اوواﺋې قربان شم له تا
غزل غزل مې راخورېږي په زړهٔ
ستا هایکو رانه تېرې هېرې کړې

دوه ورځې ژوند دے تاته ښهٔ پته ده
زړهٔ ته راجخته شه دَ ناز مېږمنې
سرکشي پرېږده دَ شیطان مهٔ منه

زما له ځانه دومره طمع نهٔ وه
خو چې قدم بږدم دَ کابل جینکۍ
راته په لارو کښې شیندي ګلونه

زړه ئې له سترګو لګېدو اوو پسټم
مالله قسم راکړي چې غېږ مه کوه
او خپله تول کلے خبر کړي په ځان

شکر دے سترګې زما اوږې نه دي
غریب سړے یم خو ګل ښاسنګې زما
د چا عېښونو ته پسخېږ مه نه

ګن تصویرونه شي خواره په ذهن
عېږ چې په نیمه شپه زمونږ ګلي کېنې
د سپو غپا شي ، هنګامه جوړه شي



د حېږ انتیا خبره ولې نه ده
غو تېره چې ګل شي په قیامت کښې د ژوند
ځان راته وېړ خدا ښکلو پیکه ښکاره شي

زنه مې اونیسي ، سترګو کښې واڼي
خلق خو خلقو باندې چل نه کوي
کور نه په نیمه شپه بهر مه اوځه

سینه ته ګلونه ورګندار کړي واڼي
څه عملي کارونه هم وي پکار
زمونږه مینې کتابي مینې دي

چې د یاران شپې رانبکلے شي کله
هاغه ماتم شي راپه یاد د کلي
کچه کورونه چې اوبو اوړي وو

د انتظار هم څه حدونه شته دے
چې تر قیامته وي ولاړ دغسې
بیا مجبوراً خلق قطار ماتوي

وې د ښائیست د بڼ شمشاد حسینې
چې ځان دې نهٔ پېژندهٔ ښکارې هسې
لکه په ګړو کښې چې اوبه وي روان



زما د خاورو کور جوګه نهٔ وُ ستا
شیرینې ما په اسمانونو غوښتې
څهٔ اوکړم خدائے راله په زمکه راکړې

اول دې ځان کښې دومره توان راولې
چې په خندا کړې قیامتونه د ژوند
پیغلې دې تا سره سیالۍ نهٔ کوي

توبې ویستلې یو نوکس وېلې ئې
کورکښې چې صبر نهٔ وي بې بې ظالمه
ده پس ناروا کارونه اخلي لله ما

هر څوک چې څه اوکړي، رېبي هغه
لار کښې کښېنه مه خپله لار اخله
ستا پخپل کور کښې هم تورسرې شته دے

تاوده، ساړه که دې د ژوند اوېدل
پېغلې مستې به درنه تېرې اوځي
بیا به په تا باندې غوټه رانشي

سترګې له دغې وېرې نه پرانیزم
زما د زړه په رنګې تېق اونه چوي
ته چې شېرېنې پوکڼې پړسوې



زغم به کوې دېر که حالات شي خراب
لاس چې د ورور مرۍ ته وانه چوي
د کور انګڼ کښې څوک دېوال نه وهي

سمه شه ښځې په خپل حد کښې اوسه
زه د تهول کلي نه نفرت ورکوم
ته راته کور کښې دېوالونه وهې

واورئ زما که ئې منئ او که نه
که لږ مو هم سُست کړو په ښځو پړے
بیا به ترې ګرځې او بېړې جوړې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

زړونو کښې اور دَ مینې بل کړې ګټې
بې حسې دومره په ماحول خوره ده
سم پکښې خدائ ښکلو واوره کېږي سړې

راته ستا یاد داسې سُرور راکوي
لکه دَ ژمي په واورینه شپه کښې
څوک په کمره کښې انګیټۍ بله کړي

پېغلې دَ ښار پارک کښې راټولې وې نن
وبُل ئې راغله یووېشتمه صدۍ
ځي چې دَ کور درشلې اوغورځوؤ



شپېږینې زړهٔ دے نرم ته وے نهٔ دے
نمائشې اوښکې عبث تویوې
کاږې اوبو کښې وراستهٔ کېږي کله

شنه چې مې شونډره شي دَ قام دَ ورو
لکه دَ چرګو دَ بچو بُغرې شي
اوښکلې خپلو کښې ډړان بیلوي

لږ انتظار دَ محرومۍ ئې اوکړه
ترڅو چې چرګه کوړکه شوې نهٔ وې
نو په هاګو باندې بېخي نهٔ کښېني

دَ قام تور سرې دې سر تورې نهٔ شي
تازه تازه غومپېق غومپېق پېغلې اوس
کړکې خیرات پسې ، دا کې غورځوي

فتنه فساد به ترې جوړېږي ضرور
چې دَ خوارانو نه خانان دَ کلي
دَ کوم چارې مزدورۍ هم اونیسي

مات شي بچې دَ مصوّر قلمه
زما دَ خیال دَ شهزادګۍ رنګونه
خدائے شته چې ټول دې په اوبو وړي دې



لا به شاملاته صدای هم تېره شوه
خو لا زمونږ وطن کښې هاغه رنګې
خالق دَ خار نه راوتلي نهٔ دي

ویل مې راغله یو ویشتمه صدي
دې کښې کوڅه کښې یو ملنګ چغه کړې
سحر را او نهٔ ختهٔ، شپه تېره شوه

تا به ویل چې مړه ژوندۍ ستا یمه
خو داسې کومې مجبورۍ دې وې نن
فریم نه چې تا زما تصویر دړې کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه اوشو خبر دے که مې پېژنې نه
مانه دې هاغه ورځې هېرې نه دي
چې په ختګل به مې اوده پرتاه وې

دېره کم عقله ئې زما لېونې
اوس دَ چا خولې خوشوک کنړلې نه شي
زما په سر پا سره شر مه کوه

موږ په جامو کښې نه ځائيږو په دې
چې دا ده راغله يو ويشتمه صدي
کور که مو وران شو نو پروا دَ څه ده



او منه دا خاطر دې جمع لره
ماله په څه ستر ګو کښې چتې راکوې
ستا په کنارکښې خو اوسېږم ده نه

ورته مې اووې حيثيت څه دے ستا
وېل ئې غواړم چې بربنډه نه شي څوک
پر تو غا نبسو نه جوړوم لاليه

پېغلو کې ناوې خپل خاوند ته وېل
هر څه چې کېږي پابندي نه منم
زه خو څه ستا لاسو ته ناسته نه يم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړهٔ مې تږی اوچوي چې مینې کښخوي
شسپړيني خپس به شي دمه پکښې خوره
رب به زموږه دا ښیستی غوښتې کړي

جذبه جذبه دي دَ ساحل خوبونه
غورځنګ غورځنګ بنځي دَ شپې ځواني ده
سپوږمۍ په دې کښې هم سترونه کوي

دَ شپې طوفان چې شي راخور په زمکه
زړهٔ دَ بې خونده اورکو له غمه
پورته په ستورو کښې پناه اخلم



کله اودریږي دَ نکهت قافلې
کله دَ ګل وږمه وږمه خورېږم
خوبونه وینم تعبیرونه وېشم

تږوله دَ زړ او زور خیره ده اوس
ستاسو مخونه په چا نهٔ ښوکوم
څوک دَ جرګو هېرو پروا نهٔ کوي

دَ نوي نسل څومره لوړ ځړونه دي
دَ پلار نیکهٔ هېرونه هم ورکوي
په ادیرو باندې پلازې اودروي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوم خپلې خواخې ته څرګنده کړله
بیا به زما نه هم ګیلې نه کوې
لور دې مدام ماسره ژبه کوي

لږه سرتېزه ده بدخویه نه ده
که دغه یو عیب ترېنه هم اووتو
نوره قسم دے ډېره ښه جینۍ ده

ته هم په پوزه باندې نه پرېږدې چې
زه هم د هائې بلډ پرېشر مریض یم
زموږ د دواړو ګذاره ګرانه ده



د نمر پیتاوي ته لا ناست نه یمه
چې څوک تمبه زموږ د کور اووهي
اووائي ، خان وېل چې ښکار له به ځو

خدائے شته که غم وي که ښادي د کلي
واغوندي پېغلې د رنګینو لباس
په ما د اوسپنو نینې اوچېږي

په بې اسرو پورې خندا مه کوه
بس کړه د خدائے نه لږه وېره اوکړه
د چا آزار دې چرته اونه وهي

Scanned by CamScanner

زړهٔ به آخر څنګه زما شي په ځای
سر کله اوخورم کله نيم پاتې شم
سپوږمۍ په يو مقام ولاړه نهٔ وي

○

څهٔ ناروا دَ فاصلو دهوکه ده
چې يو ساعت يوازې کېږمه نو
زهٔ په خپل ځان هم بدګمانه شمه

○

نيکارې چې خاورې مې په سر اړوي
زهٔ ورته نيم نيم پاتې کېږمه نه
او لا ميوه ئې هم نيولې نهٔ ده.



دې کښې څوک لاره دَ منزل اوموي
ګوره څنګل کښې بيا په نيمه شپه کښې
دَ اورکو قافله لوټ کړله چا

○

موږ څکه سر باندې خېمې کړڅوؤ
چې دَ صحرا شپه بې باوره شپه وي
پړق دَ بجلۍ شي دَ باران شپه شي

○

باران شپې شپې ورېږي مګر
اوروښه بل دي دَ نغتر په اونو
بيا چرته تندر په څنګل پرېوتهٔ

داسې که ځاځکي ځاځکي کېږي ګلې
دا تسندغرے زړۀ مې اور اونۀ کړي
شابه شبې شبې را اووريږه

دَ خدائے کارونو کښې څوک څۀ اووائي
ما چې ئې طمعې دَ خوږو کولې
دَ کربلې نه هم ترخه اوخته

يمه په هر ښکلي مئين شيريني
واړه رنګونه چې را ټول شي په ځائے
ترېنه دَ نمر سپينه رڼا جوړه شي



بيا چرته پېغلې ستومانې اوباسي
ګني نو داسې چرته شوې نۀ وو
دَ کوثر غنچې او دَ چينار اونو کښې

وائي جولۍ بد مې تر څوخالي وي
ګلونه نۀ کېږي انګڼ کښې زما
ما چرته شاړ کوهي ته اوغورځوه

زما ژړا ئې دَ زړۀ تاؤ کموي
دَ پشکال خوب چې سپوا شي کله
پېغلې ځارې دَ بارانونو لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

اوسپاري خلق سرو لمبو ته دَ ژوند
راشي بيا يو ساعت له نهٔ اودرېږي
منګلي، زموږ د وطن سپرلي دي

له ځنګله ورستو ئې پخلا کړم پيدي
سر مې ماتېږي لېونے نهٔ شمه
يوه د سپين ګولۍ خوراکړه کنه

پېغلو کې هر قدم په خيال اخُله
ستا چې له سره لوپټه پرېوته
راله بجلۍ سخته جټکه راکړله



ښهٔ سمه دمه وي کاروانه کړي
خو دَ شهلا زړهٔ کښې څهٔ غلا ده ضرور
ساک ترې سيلۍ يو سي چې ما اووېني

دَ زړهٔ دروا راله په ځائے اودروي
ټک ټک چې اورم دَ ګړيال، شيريني
وايم که ما بانديې څوک ورځي کوي

ګړي اوازونه مې سنګسار کړي ضمير
وايم که څوک مې په مرۍ غلے شو
پېغلې چې خپو کښې ګونګروګان اوتړي

هسې بې ځایه اوس فریاد مه کوه
ستا د سینو غوټۍ هوارې څه شې
پرې چې ماشوم له د فیډر ورکوې

راله حلوا د ناشتې پخه کړې
بیا راشې غوړ کښې راته پټې اووایې
د سرو نتکې راله جوړې اوکه نه

سم له ما نیسه چراغونه وژنې
په تاکښې څه ناڅه تیاره خوشته دې
خدائے شته له ما سره دې بیا ویره کړه



ځنې کارونه د چاوس کښې نه وي
هر څه کېدے شي لېونۍ خو کله
کملونه کېږي د انځر اونو کښې

تا بیا کومه د یو نوي سفر
اوس به په دې باندې څه زړه خوږ مه چې
د خوب تعبیر مې اپوته اوخته

اونبکې مې سترګو نه رواني نه دې
دا خو د کلي د ګودر په غاړه
قطار قطار پېغلې ټېلونه کوي

رب يې ژوندي لره خو سوبح کومه
خلق به خپل مړي اوس چرته اوړي
کلي اباد شو مقبرې ورانې شوې

د زړهٔ زخمونه چا ته ښايمه نه
پکښې بې شمېره حادثې دي د ژوند
زهٔ د سپېلو رنګونه ستايمه نه

راوړي له ځان سره بهار اورونه
لمبه لمبه پکښې سوزېږي خلق
بل دي د ژوند په هره لار اورونه



مرم چې څوک نوم د انتظار اخلي
په ما به ټول کلي ته اور ورته کړي
ښکلي د هر چا سره لار اخلي

د زړهٔ زورونه لېونتوب اوخوړل
اوس به زړې خبرې څهٔ يادوم
ټول تعبيرونه رانه خوب اوخوړل

چې زمانه ټوله په خوب اوده شي
ترېنه راپورته شي سازونه د ژوند
د کلي شاړ ارهټ کښې څوک دېره دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما تصویر ته ئې ژړل وېښل ئې
پېړۍ د مرغۍ مې درلله هم راوړې وو
اې د انځر کله چې چرته به ئې

څه زوړور دي مشران د کلي
چې د لمن داغ ته مې ګوتې نيسي
او نېغه لار راته ښودلی نهٔ شي

مړ نهٔ شم ځائې راکړه د زړهٔ په کورکښې
تاودهٔ ، ساړهٔ که د ژوند ما اووهي
زما به ډېل نمونيا شي کلي



شېرينه کوڅې په تندې راولي
وائي ربښتيا ربښتيا خبره کوه
ستا د جامو استري په څهٔ ماته شوه

بې شماره داسې رنځوران شته دي چې
تميز د جنس او د جمال نهٔ کوي
اووائي ټول خوندونه يو رنګې دي

ستا د ښائېست د فرېبونو نه زار
خو لږ مې پرېږده چې ځان اوپېژنم
ما د بيوړۍ په تال کښې مهٔ ځانګوه

Scanned by CamScanner

خپلو همځولو ته شېرینه وائي
سر ته یې خبر شه خو باور مې نشي
رغېږي نه د پشکال لیوني

پوزه دې پرې نه کړې د قام لیونی
درنه په لاره ستړېدلې نه شم
ته د واده نه پس هم سمه نه شوې

پېغلو وېل مونږ ته ګناه نشته دے
چې د خپل کور ورونه بند شي په چا
نو ځا ځا چا سره لار اخلي



یې د نازونو لوئي شېریني
ځان چیاله ورنه کړې په لاس ومنه
ګڼې ډنګونه به دې تول والوځي

وائي ګیلې دې په سر سترګو منم
ما نه بیا د بېرې غلطي شوې دي
خو لاس چې مات شي خپلې غاړې ته راځي

میاندې په داسې ښتنو بورې شه
پاسې پردې تورسرې او تختوې
بیا یې د خوېندو څوک تپوس نه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خبرې څه جواز خو به وي
خدایه شته چې چا د چا نه غلا کړېده
د باز د جالې نه ټپوس الوځي

خدایه شته خبره به صفا کومه
دا خو بېخي بې انصافي ده کنه
اوس چې د ورور تېلو کښې خوېندې سوزي

کور کښې ساتل مرغ زرین ښه نه وي
هېڅ بیا له خپله ځانه نه شي خېر
ښځې راپاسي خاوندان قتلوي



تښتاه له خپله ځانه څله کوې
پرېږده د سر سپورې دې مه ورکوه
خدایه شته د کور اوني څوک نه پرېکوي

زمکه به ولې په ما تنګه نه وي
چې ستا چینار چینار ځواني شهرېږي
تل د اسمان سره خبرې کوي

داسې بې وارې مې ساګانې نه وي
خو چې ګلونه نارنجان اونیسي
بیا مې سېږي ستا د بدن خوشبوئي

Scanned by CamScanner

زهٔ دې له څخه تېرېدلے نهٔ شم
هر څهٔ ته ستا له پاره غاړه بږدمه
بس کنه لار را باندې مهٔ جوړوه

په مړو حساب دي تماشګیر دَ حُسن
ستا دَ نظر تاؤ ئې چې اووهي نو
دَ کیکدانو اوښي څېړه اونیسي

ستا ترمېدو راکښې سختې راوسته
چې را رواني دې شوې اوښکې په څخ
کاڼي اوبو شو او اوبو کاڼے شوې



په څهٔ ناترسې اوړېدلے یمه
وائي که بل چاته دې اوکاتهٔ نو
ستا کېږدی کښې به اوبهٔ اوڅکمه

خوښه دې خپله ده خو یاد اولره
چې جوارګرو سره مینه کوے
نو خپل عزت به هم په داؤ لګوې

مینه کوو خو مینه پېژنو نه
تهٔ دَ هَوا په اَس سوره الوځې
او ځان له برمه غورځولے دے ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



برہ دَ ستورو او سپوږمۍ وطن کښې
مینه دَ مار خپله دہ شیرینې زما
لږ ه په خیال کښ څه سرتوره نۀ شي

○

اووائي کرانه! پښتنه پېغله یم
یو دَ ناموس سودا مې مۀ کوه نو
هر څۀ به ستا له سره زار کړمه زۀ

○

چې خپل لوظونه ورته یاد کړمه زۀ
خبره وا روي شپېلۍ کښې وائي
مور مې ناروغه ده بابا خبروم



اووائي ژوند دې شوګیرو اوخوړو
په نیمه شپه چې اوبۀ خوړله ځې نو
خدائګو زما له زړۀ نه اور پورته شي

○

ستړګې به خاورې دَ پېغلوکو ورشي
دَ شپې به هر پار کښې چرګان پاسي او
څانګو نه پرق وهي بانګونه وائي

○

ښکل مې لاسونه کړې ژړا کښې وائي
تۀ چې زما ګناه به مه اخلې
دغه نیکي به دې مدام یادوم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رب دې په دې خبره ما ښه نيسي
پېغلې د ښار داسې پېکه پېکه دي
لکه چې خوند ترېنه اوبو اوړې وي

منم خبرې زما عادت نه دے خو
چې پښتنې پکښې لغړې ګرځي
اور دې د صدر په بازار پورې شي

نور به عذاب څه نازلېږي په موږ
پکښې تور سرې چې سر تورې نه شي
بيا ئې په ښار کښې څوک عزت نه کوي



شرم يې ياني او ښه خوارې ښه د ميانې
باران کله لږې چې تله اوورېږي
نو هسې اسکالې مسو د چم ښځې شي

پښتنې ښځې خپل خاوند ته اووئيل
ګرانه! که مال دې پتلون راوړو نو
په دوه ميله ټوپک به ځان اوولم

درنه وادۀ ښځې لشه اوويسته
جوړې خاوند دې زوړ زوړ اوخته
تا خو د بوقې نه بلا غوښتله

Scanned by CamScanner

یوه سپېڅلې تجربه مې اوشوه
اوس په کم اصلو اعتبار نهٔ کوم
خاوره دَ لوے ډېرانه اخلمهٔ زهٔ

ستا دَ اوږدو زلفو بلا واخلمه
دَ ژوند طوفان کښې په چا ملامهٔ تړه
مار هم پردي لاس باندې نهٔ وژنې څوک

دَ محبت له عظمتونو نه زار
چې دَ زامنو ئې وډونه جوړ شي
میاندې په سپین سر ګرځاګانې کوي



وائي له لور او خور تپوس کوي څوک
کوم چې هر څهٔ کوئ، ستاسو خوښه
زهٔ دَ پردي ډېران ځځله یمه

ماتېږي کاڼې تل په کاڼي باندې
زهٔ چاروګې چاته وهلے نهٔ شم
ورکړې ما نهٔ دي ډېران له لتې

زور مې په ځائے دے خو غور ځنګ نهٔ کوم
ګنې په ما باندې دَ ښار مېړنو
نن دَ ګېډرانو غوښې هم اوخوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدائے شته هیچا ته ملامته نه یم
لوږو او تندو که وژلم نو هم
چرته مې لاس چا ته نیولے نه دے

اوس به د ځان څه صفائي کومه
ځکه بلاخراب سړے شومه زه
شېرینې تا سره مې ښه کړې وو

خدايګو په خوند پسې د ژوند راندہ شو
اے د ځوانۍ د تقاضو سپړلیه
زمونږه کلي ته به راشې که نه



شېرینې ډېره ناآوزګاره یې خو
ته چې له ځان سره یوازې شې نو
دا ځوانۍ مرګ در ته یادېږي که نه

د زوراور اوبه په لوړه ختې
آ چې بدخویه یادېږه کلي کښې
د خپو تلي مې هم هغه ښکلوي

رب دې ژوندۍ لره خو ډوب دې کړمه
زه به چېکس کښې خامخا راتلمه
راته چې ملاسته په اوبو کښې وې ته

Scanned by CamScanner

ورسره سیل له د سیندونو نه ځم
هسې ترې هم زړه صبرولے نه شم
او د مینې غوښه بلا کړمه وي

سر توره مه شې خود ناز مېړمنې
داسې طوفان راپورته شوے دے چې
په سینه ورځ خلقو نه لار ورکوي

چرته له دغې غمه مړ نه شمه
ځان باندې ژوند خاورې ایرې کړې عبث
په جینکو هم و ځوانۍ رانه شي



چې څه کړې هغه به رسېږي مدام
پکښې نیلام چرته ناموس دې نه شي
پردو پښتو کښې کړوندې مه کوه

یو څاڅکے وینه راکښې پاتې نه شوه
تورې شپېلۍ چې کله ما اورېدې
زما د خپو لاسو نه دم اووته

او خاندې غوږ کښې راته اووائي پټ
تا ته به ځان قلقلاخان ښکارې خو
خلق به تا پسې ملنډې کوي

اووائي ټولې د قسمت لوبې دي
خلق لګيا دي سنداړګان لوټي او
زمونږه لنګې مېنې پېره نه کوي

○

وائي تر څو پورې به زغم دې کړم
زهٔ درته کور کښې لمغرې کومه
څې په کوڅو کښې لوړغېږه کوې ته

○

کم عقلې هسې پرېشانه يې ته
د محبت غمونه بوجه خو نهٔ وي
سترګې پټو باندې درنېږي کله



منم چې ګرمې محرومي مو دي خو
کلي زمونږه هېروشيما نهٔ دے
چې د سپرلو پکښې وږمې شنډې شي

○

مينه اوباسې له زړګو نه وېرې
اوس که اوبنسان ساقي شېريني زما
نو دروازې دې د کور تړلې نهٔ شي

○

آخر به مړ شم که دا حال وي زما
هيڅکله مې يو ساعت له نهٔ اودرېږي
آ لېوني مې همېشه يادوي

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

تت چې دې نهٔ شي د ښایُست رنګونه
ځان زهٔ د مرګ ښېختو ته نیسمه خو
لګه د سوي لاس په تا ساتمه

اوواڼۍ ټول د اکسیجن کمې دې
هیڅکو ته هسې خوشحالېږي ځله
څوک لېونۍ نهٔ دي چې تا یادوي

دومره بلا خولې راته وازې شي چې
په ډېره تېره کښې هم هیڅ نهٔ شمه
د کوهي خټه په کوهي اولګي



وار چې خطا نهٔ کړې سینه لویه کړه
څومره څټلې ورته اوغورځېږي
خو پلیتېږي نه روانې اوبهٔ

د ژوند له هر ازمېښت نه تېښته کوي
راته معلومه د رقیب توره ده
ما د جبو له ماره مهٔ ویروه

ستا په فرېب کښې ځکه راشمه زهٔ
زما د ژوند غرمو کښې سرسپین شواو
تهٔ لا د توي پشکال ګیدړه يُې

دومره سپوا شوه په وطن کښې لوږه
اوس څوک روټۍ ته انتظار نه کوي
بس په اومو اوړو ښخوندونه وهي

خپله ګناه چې يې منلې ده نو
پړ پړ ده هغه نور ورته هېڅ غږ مه کوه
غل څوک د کوره پورې نه زغلوي

مصر بانه دې شک کښې اچوي ما
بيا دې څه کنده کنستلې ده جوړه
راته چې خاندې او شپېلۍ غږوي



زما د زړه درزا بې ځايه نه ده
ستا په وفا باندې شکمن نه يمه
خو مطلبي په ختمه اوړ لګوي

رب دې دروغ کړي خو ويرېږمه زه
زما احساس داسې ښکلن غوندې شو
جوړ په دې کلي کښې چينې اوچې شوې

ومېل يې رب دې پکښې خېر واچوي
نن راته زړه داسې کچه کچه شو
بلکه هاګۍ چې څوک اومه اوکوټي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وائي له هر چا په ما ګران دے ولې
زما چې نه مني نو څه اوکړمه
رب دې ئې مړ کړي چې ترې خلاصه شمه

چې مې په زړه باندې تیاره راځي نو
سر کړي سرتور لوپټه اوغورځوي
وائي را اورسېږي سپېره بابا

را باندې خوا د خلقو مه بخوره
مونږه چې خپل منځ کښې جنګونه کوو
خدائے شته د ډېرو پکښې غوا لنګ شي



کومه ګناه ده چې ئې خلق کوي
دا د وطن په خاوره څه شوي دي
چې د چینار اونې له مونږه اوځي

رب دې کانړه کړي د شیطان غوږونه
ښه په مړه ګېډه مې تېر ماسخوتن
په ګل ورېښو لیچو خوب کړے دے

پرېږده زما په کار کښې کار مه لره
ښځې ما خپل سړي ته پرېږده ګنې
تا به په درېو کاڼو طلاقه کړمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپېږينې ما باندې احسان مهٔ کوه
زما د زړهٔ زخمونه نهٔ رغېږي
څو چې ګزک نهٔ شي ، پرسوب اونکړي

لاس يې تنګ شوی د خاوند دې څکه
وائي که ماله يې نتکی جوړه کړه
خولې ته به چونګ خاوري ورواچومه

لکه غوټۍ ځان کښې راټوله اوسې
لا دې د ژوند زهر ګوټلي نهٔ دي
څکه دې زمکه باندې خپې نهٔ لګي



خدایهٔ شتاه څنګونه خوښومه نه خو
ددې خېبرې ضمانت څهٔ دی چې
زما دښمن به په ما ډز نهٔ کوي

له دې نه لويه خوشحالي به څهٔ وي
ستا د خاورين وجود بلا واخلمه
اوړي کښې واورې شي ، لمبې ژمي کښې

ميانه دې دې لارې د بچو ښاري خو
چې په لندن کښې څوک سبق اووائي
آ په کچه ستېشن اودرېږي کله

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړۀ تقاضې د محبت پسې ګرځم

شیرینې ځنګ کښې مې ویرېږي ځله

پاخه رنګونه په اوبو کښې نۀ ځي

اووانې دومره نادیدکه نۀ یم

خو اوږې سترګې زمانه چې وینم

د سرو چاړۀ په لرمانه منډه

جوړې دستور نوے کوي وختونه

ما خو مېږے هم ازار کړے نۀ دے

د کلي خلق مې په ځۀ قتلوي



زړۀ دې له ښکار منې کومه نه خو

هسې له تانه یو تپوس کومه

ستا په سر خکو باندې زړۀ نۀ سوزي ؟

دومره په بې ځایه وخت دې اورتلم

داسې لل کمل شومه شیرینې زما

لکه چې بانګ نه ځوک بانګې اوشړي

تۀ به له لوړې نه مړ شوے نۀ وے

ښکارې ! ښکاره بې انصافي دې اوکړه

مارغانو جالو کښې ـ بچې ږاوړې وو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدائے شته ژړا دَ زړهٔ دَ درد فامه ده
چرته مې حق دَ چا لوټلے نهٔ وي
زما په سترګو کښې دَ چا اوښکې دي

ساه ترې وېستلے شم په دوؤ ګوتو کښې
خو سوچ چې اوکړم وايم سر دې اوخوړې
څوک به پلیت ړنړ ته اوس کانې اولي

نور دَ فرېب دامونه مهٔ غوړوئ
زما نظر دهوکه کېدلے نهٔ شي
زهٔ څهٔ دَ دوؤ مېښو کټې خو نهٔ يم



زما ددې وهم علاج به څهٔ وي
خو چې ګلونه په خندا اووینم
وایم که ناوې دَ وطن کونړه شوه

دَ خدائے قدرت دے څهٔ به وايمه نه
هغوي په ماکوي دبکې دَ قتل
څوک چې ځان ځان نه شړے نهٔ شي

دَ بې حسۍ هرو څهٔ حد نشته دے
زړهٔ چې سرګند کړمه دَ زړهٔ زخمونه
ګلونه مړاوي شي په شين بوټي کښې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای شته په زړه کښې مې هېڅ غلا نشته خو
دَ چم قضا دومره خرابه ده چې
ځان راته هسې ګنهګار ښکاره شي

تپوس کوم دې کښې ګناه چا ته ده
ما مشران دَ کلي وژني په دې
چې زهٔ دَ هر چا سره مینه کوم

نور زهٔ انصاف دَ چا نه نهٔ غواړمه
که وس مې او رسېد شیریني زما
واړه کړې خولې به په سوک سموم



څوک دَ تخلیق له درده څهٔ دې خبر
ګوتې چې نیسم حادثو ته دَ ژوند
دَ خوند رنځور تړې فحاشې جوړه کړې

اوواپه پاڼې په تاوان کښې دې څوک
ستا سو چرګان هم په خوله بنهٔ نهٔ لګي
او مونږ له ساګو سره ګوتې او خوړو

زهر خوارهٔ دي په قضا کښې دَ چم
ما دَ مارغانو ژبې هم زده کړې خو
دَ بدامنۍ علاج مې هېڅ اونهٔ شو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلا دَ ژوند ضرورتونه دي خو
چرته جذبې پکښې سنګسارې نهٔ شي
پرېږده دَ کاڼو تجارت مهٔ کوه

ډېرې بې خونده چینګې دي دَ ښار
کله چې وخت دَ امتحان راشي نو
ځان پسې بند کړي دَ باتهروم وروته

اندېښنې هم وي دَ الوت لاړو کښې
ولې د ژوند دَ حادثو له وېرې
دَ باز وزرې خو څوک نهٔ پرېکوي



منم چې ژوند سره دې مینه ده خو
بیا به دې هرڅهٔ نه باور پورته شي
که دې دَ ښار په هسپتال کښې شپه شوه

منمه ستاسو مرتبه لویه ده
خو ګورې پام چې غلطي اونهٔ کړئ
مونږه څهٔ هم اوبو زاوړلي نهٔ یو

رڼا خو نهٔ وژني فکر ونه دَ چیا
خدایګو په ذهن مې تیارهٔ راولي
دا بنج وتلي دَ بجلۍ بلونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو سپوږمۍ په ډک بازار کښې وېښل
څوک چې وسله باندې مضبوط نه وي نو
هاغه به خوند د وسیلې لټوي

زړه مې یو درز اوکړې پرېشانه شمله
خاورې به یاد کړې د ګلونو په سر
دا هواګانې چې ورېږي خوږوي

منم فضا ئې معطره کړه خو
خدائے شته دا حق ورله ورکړې دے چا
هوا په څه وېشې ورېږي د ګلو



محبتونه فاصلې نه منې
دا سرحدونه د نظر دهوکه ده
اوبه په ډانګ چا بېلې کړې نه دي

شېرینه وائي که سیلۍ راغله نو
خدائے شته چې پرمخې را اوغورځېږي
زمونږ د کور ټمبه وېښو اوخوړه

په یو نظر چې به ئې زړه دمه شوم
اوس راله تږوله شپه زورونه کوي
نو ستومانۍ مې د وجود اونه څي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پړ پړ دې دا ستا دَ وس خبره نهٔ ده
هغوي دَ سر په سپوري اور لګوي
څوک چې خشاک له دَ کور اوني وهي

دَ بد نصيبو په دې وران کلي کښې
مارغان چې جالې جوړوي شېرينې
دَ طوفانونو علامې ښکاره شي

هيڅ پلنې نهٔ وو دَ ژوندون خوندونه
چې دَ اسمان څوکې ته اورسېدم
راله ارمان راغې دَ خپلې زمکې



بې له څهٔ وجې راله راشي ژړا
جوړې زما دَ لاشعور په شپه کښې
سر تورې پېغلې ماتمونه کوي

ډېرې شلېدلې. دَ رقيب سترګې دي
چې آئينه ورته په لاس کړمه نو
دَ سپي څرمن په ځان راواچوي زر

وينه مو جام نهٔ شي واورينه شپه ده
منم شېريني ډېره ګرانه ده خو
کټوره چغه کړه دَ زېتون تېلو کښې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې وسه شوې يم بې ننګه نهٔ يم
په بد حالۍ باندې مې مهٔ تېروځه
غوښه که او سوزي پښتې نه ښهٔ وي

داسې نارا سته کړو دَ ژوند عېشونو
اوس چې بجلي لاړه شي سخت اوړي کښې
ځان ته ببوزي هم وهلے نهٔ شو

دَ چا ناموس پکښې جوړ لوټ کړلو چا
چې قافلې پکښې دَ رنګ مېشتهٔ وے
هلته دَ کاڼو بارانونه کښې ي



زهٔ تقاضې دَ مينې ښهٔ پېژنم
ولې زما هم څه غوښتنې شته دے
څه څهٔ دَ لوبو ګوډاګے خو نهٔ يم

منم چې هيڅ ترېنه سازېږي نه خو
دَ چا دَ سر سپورې هم نهٔ ورکوي
له تعبيرونو نه خوبونه ښهٔ وي

دا تقدس مې له ګناه ويرَوي
راته چې ښخته شي ګلرنګې ، له تا
دَ ګوتم بده مجسمه جوړه شي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکښې هېڅ لارې دَ منزل نښته دے
ترې ګېر چاپېر دي دَ صحرا رېګونه
انسان په ورانې جزيرې کښې اوسي

چې يې زما ګرمه ګرمي اولیده
نو دار خطا پېغلې له خپلې وېرې
دَ ازغکي اوبهٔ په ما اوڅکلي

غلے که ناست يم خو خو تېکېږمه زهٔ
ما خاموشۍ کاڼے کولے نهٔ شي
غرونه لاوا شيندي چې غږ اونکړي



زهٔ قدغنونه په چا نهٔ بږدمه خو
ښهٔ ته به ښهٔ، بد ته به بد وايمه
حجره، جمات کښې خلق فرق کوي

پرېږده دَ ښځې بد دې مه وايه اوس
که دې دَ لاس لاندې ساتلې شوه نو
داسې به سر باندې به نهٔ ختله

ورته چې وايم ښائسته جینۍ ده
شېرينه وائي دي کښې شک نشته دے
خو لږه پوزه يې کږه غونډې ده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپې چې اوس ښارېږي د سپوږمۍ پلوشې
ما په ساحل د خپل احساس لاهو کړې
ستا د ښایست د موسیقۍ موجونه

ټکور ټکور به مې زخمونه نه وي
چې مې په ټول وجود د ناز مېرمنه
لکه د ژمي د غرمې خوره شې

اومنه به هسې د شپې مه وایه
نور لا ورمېږ ځړیکې وهلې نه وي
چې لار کښې لوټ شي د ورمو قافلې



وږمه وږمه شي په هوا کښې ورکه
او پانړې پانړې شي په لار کښې خوره
غوټۍ چې ګل شوه پکښې پاتې څه شي

رب به مې روغ کړي که ناروغه یمه
د ډاکټرانو دوائي نه خورمه
اوس به په ځان څه تجربې کومه

اوس دې ستم ته د ژوند څه او وایم
چې زه د خپلې تندې حال وایمه
نو په سیندونو کښې اوبه او چې شي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړهٔ چاوُدون پورې مې خاندې ځله
چې لوړه تنده شوه سپوا کلې کېنې
دَ ښار په بېنک باندې ډاکه پرېوته

زهٔ به دې زهرو باندې نهٔ وژلم
مځ به له ما نه اړولے وُ تا
نو ما به ساه هم اخستلې نهٔ وه

وائي شکونه په تا نهٔ کوم خو
داسې بې وخته چې له کوره اوځې
زهٔ دې دَ زړهٔ له زوره خلاصه کړمه



شپږینه وائي له نظره به شې
هله قدم ږده له دُرشله بهر
چې بسپېلني درته لوګي کړمه زهٔ

ما به له دې بلا نه څوک خلاصوي
تهٔ چې په نیمه شپه کمسې پرانیزې
پیریان راپاسي په ما کټ واړوي

چې هلو ځلو کې هیڅ خوند او نکړو
کونړې ویښل هرڅهٔ په شرق اوګله
خو رب دې اوس زما خاوند اوبخښي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیرینې ستاکیاې په سر سترګو خو
که دې زما دا باده ورځ اولیده
درنه به اوتښتي د شپې خوبونه

خامخا زړه به خرابیږي زما
لا خو مې سترګې هم ورغلې نه وې
تا د کچه خوبه راپاسولم

بس چې نه کړې له درشل نه قدم
چې ې دولی د پلار له کوره اوځي
پوه شه د ښځې جنازه پورته شوه



د ژوند رفتار لا اودرولے شي څوک
داسې په وړاندې زمانه لاړه شي
چې آئینه دانه وانه لاړه شي

له خپل عادته اوړیدے نه شي خو
اووایې دا ځل راته غین مه کوه
بیا به قسم دے داسې کار نه کوم

چنه توبه که ې ویستلې ده هم
په پټو سترګو پرې باور مه کوه
پرے که اوسوزي خو ول وي پکښې

Scanned by CamScanner

چا درته اوښودلې دا خبرې
چې دَ پهانسۍ تختې ته ما خېژوي
اووايه ستا خوله کښې دَ چا ژبه ده

خدائے شته چې کانه جوړ په کور شو زما
مېرمنه داسې لله کمله شوه چې
لکيا ده توت ته بيکيانه وائي

ستا سر تېږې خو ياد به دې کلې کښې
نن دې دَ چا ستر کې ليدلې دي چې
دَ پوکښې نه دې هوا وتې ده



اوس راته خاندې چې مې سر غوڅوي
ياد کړه چې ځان به مې له تړوقې وژنه
نو تا به کريکه کړې چې غرقه شومه

مردار خوارهٔ وي دَ ذلت سره ځ
رب نه دَ باز غوندې فطرت او غواړه
پړ پړ ده دَ بل په نمړۍ شخوند مهٔ وهه

توره راواخله سر پرې غوڅ کړه زما
که دَ جابر سلطان په وړاندې چرې
حقه خبره ما کوله نهٔ شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه شته چې ساه راله تیاره ډوبوي
شمع له دې غمه وژلې ده ما
د پښتنو خون راپورې نه شي

د خپل ماشوم خیال به یې نه ساتلو
چې رب ترې واخست نو اوس لمغه بنځه
ځان سره غېږ کښې ګوډاګې ګرځوي

بې شکله ځان بنائي شریفه وینه
دا درته نه وایم چې بد دې اووے
خو د یو لاس ګوتې هم فرق لري



وار مې خطا وي چې قیامت رانه شي
خو چې چاپېره اذانونه واورم
زړه مې قرار شي په سجده پرېوځم

زه مجاهد یم د اسلام اومتئ
ډېر ګنهګار یم خو که وخت راغې نو
زما د توري زور به هم اووینئ

سائنس دے ګنهو تضادونو کښې ورک
که مرحله د اختلاف راځي نو
په پښتو سترګو به قرآن پسې ځم

Scanned by CamScanner

کافي دے دومره اطمینان ما لره
چې مظلومانو سره مرسته کوم
او دَ ظالم مرۍ ته لاس اچوم

ما کښې هم کښې خرابۍ دي منم
هیڅ دَ خپل ځان زهٔ صفائي نهٔ کوم
خو رب دې ښکو ته اوس پام کړي زما

توبې اوباسمه توبې ماتوم
بلا کمزورے یم بې وسه یمه
رب ته زارۍ کوم چې ما اوبخښي



یم بت شکن بت پرستي نهٔ کوم
له انسانانو په څهٔ طمعې اوکړم
زهٔ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه وایمه

نن راته جهل کښې یو قیدي اوویل
هره خبره باندې سوچ وي پکار
توکلې لاړې خولې ته نهٔ راځي بیا

تا چې ډالۍ کړې راواپس دَ مینې
دَ هغې پلار په رنګې حال شو زما
چې ناوې نور ورته په کور ناسته وي

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ خو دَ عقل نه هم کار اخله
اوس چې په ګوړه باندې مري دښمنان
څله یې زهرو باندې اووژنه

○

زهٔ دَ انسان بې حرمتي نهٔ کوم
خو چې وېنا دَ پېغمبرٌ رد کوي
نو کوځه ږب سپي ترېنه ښهٔ ګڼمه

○

دَ سیاسي رهنما ژوند خاورې شه
دَ امریکې خوندیٔ په غوله کښې وي لا
یو زورَور یې بې ښېځې کسه کړي



اثر پرېوځي په ماحول دَ ګناه
دَ ښار له خلقو چوړ غیرت اووتو
دوه ازمرې یوه پنجرې کښې اوسي

○

موشګافي دې یې په شرق اولګي
چې شریعت سره په لاره نهٔ ځي
بېځې زهٔ داسې تصوّف نهٔ منم

○

څنګه وي نوره دَ ایمان کمزوري
دانه چې اوس دَ جمعې مونځ شي قضا
زړهٔ کښې زره هم ملامته نهٔ شم

Scanned by CamScanner

ښځې صفا خبره اوکړمه خو
ګڼې مطلبونه ترې یاران اخلي
چاته له ویرې اوس سلام نهٔ کوم

ګڼې ښاښتونه مې په سترګو کښې وي
خو بې وسۍ یې رانجورې داسې کړې
لکه دَ ناوې ځج په اور اوسوزې

بې حیایه ضد دې داسې رنځ مرېز کړم
لکه بد بخته ښېښتنه پېغله چې
له ډېره سوخته خپل بنګړي ماتوي



هیڅ ترېنه طمع دَ انصاف مهٔ کوه
چې عقیده یې جوړه شوې وي دا
جنګ کښې روا شي ناروا کارونه

زهٔ پخپل کور باندې تېر اوځمه اوس
هم یوه لار ده هره ورځ پرې ځمه
خو روزانه راته څهرې بدلوي

وصل یې داسې څهٔ خبره نهٔ وه
خو هیڅ بې هغه چې رابرګ شوې په ما
تا جوړ مخې پسې شوملې څکلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهٔ وایه، نهٔ پټېږي نمر په ګوته
راسره داسې ګوته تا اوکړه چې
په غرېدلو سترګو هېڅ نهٔ وینم

دَ تکلّف محتاجه نهٔ ده، مینه
وس چې دې نهٔ رسي زما لېونی
تا ودهٔ ستونه راته خله کوې

که مې په کور کښې هېڅ درک نهٔ لګي
خو چې مېلمه راکړه راشي نو بیا
ورله خپل ځان حلالوے شمه



بلا خوندونه به پکښې وي منم
خو دا دَ مینې سپکاوے ګڼمه
تنده دَ ګل په پرخه نهٔ ماتوم

اوښې په دغه غم کښې ځان اوخوړهٔ
زما پخې مېوې به دې موسم کښې
دَ چا سپېرو حجولو ته ځان غورځوي

خپله لمنه په ځان مهٔ اړوه
دا تهٔ چې یل بربنډوې اومنه
ستا به له سره هم پټکے پرېوځي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووایه ښاده ورځ به څهٔ اووینې
چې دوه پېسې دا ښبستانهٔ اوګټي
ټوله شپه دې ګډوې جېره کښې

○

زار دَ ښاریانو له نرمۍ نه شمه
ښځې ئې دومره په سر اوختلې
اوس ترې پېشتې له لوښے هم نهٔ موې

○

لکه شیشه مې زړهٔ ذره ذره شي
دَ شپې چې پاسي دَ دنیا قاتلان
په کانو اولي دَ کوڅو بلبونه



دا بې نیازي دَ محبت اووینه
وائې دَ لوږې نه دې مړه شمه خو
راته به ښار ته مزدورۍ له نهٔ ځې

○

دَ ترخه مهٔ اوځه دَ کلي اوځه
ستا مجبورۍ بې ځایه نهٔ دي منم
خو څوک په څم مالت کښې غلا نهٔ کوي

○

پېغله چې دَ تې ماشوم له نهٔ ورکوي
تهٔ ځان ته مور په څهٔ خبره وائې
سپۍ هم بچو له خپل شودهٔ ورکوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ساینس دا معجزه هم اوویسنې
میاندو ته داسې ستنې اولګوي
چې په بڅو ورله زیړے راولي

چې ئې په تې. وي اشتهار اوکته
وښل ئې دا په نېغو دړ ظلم دے
دوؤ نه سپوا چې راوړلے نهٔ شم

دَ خدائے کارونو کښې څوک څهٔ اووائي
زما نظر چې په لټون وُ دَ چيا
اوس مې په سترګو پاندې ښهٔ نهٔ لګي



هسې بې ځایه خوشحالېږي په څهٔ
ما چې ترياق دَ محبت څکلے دے
دَ مار په زهرو باندې نهٔ مرمه زهٔ

کور رانه ورک دے او دَ ژمي شپه ده
ستا دَ نظر تاوونه هم ساړهٔ دي
دا بې حسي مې چرته کاڼے نهٔ کړي

سترګې په دې کښې څهٔ مرې شي دَ چا
چې سپر اوړهٔ ځان له پيدا کړمه زهٔ
نو دَ کارغانو سپل راتول شي په ما

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ چا په نهٔ غوښتلو هیڅ اونهٔ شو
دَ دوؤ په تېرکښېږئ لس اوزېږول
خانداني منصوبې غرقه کړله

دَ احمقانو څخهٔ لکه خو نهٔ وي
وائي خوشحاله کورنۍ هغه ده
چې ماشومان پکښې غوبل نهٔ کوي

چرته دَ یو لاسه ختلې دے پړق
تاچې په خپو نکریزې پورې کړلې
زهٔ به دې هم تپوس له در نهٔ شمه



سر ترې قلم کړه ورته ګورې څه له
له دې نه لویه بې ننګي نشته دے
پلار چې راپاسي خپله لور خرڅوي

دَ پښتنو شمله به نهٔ ټیټوي
خبره ستا زما تر مینځه ده او
ته دَ بېګم نه مشوره اخلې

رښتیا وېنا به په هرحال کښې کوم
ستړکه زما دَ هیڅ نه هم نهٔ رپي
په ما تو تان څله څنړې شېریني

Scanned by CamScanner

وړې مبارک ورته د زړه داوه شه
خو ستا د سپین سر له قربان شم ابۍ
ماشي له میانده و نه چې شو کوي

○

هر ځله چې وو ځو تابه چوړۍ نه کوۀ
راته په شا چا ټپوسے نې جوړ
داسې چې ځولۍ پوړې دې پټې اوترو

○

درسره دا خبره نشۀ منمه
که زړۀ دې تور دے له دنیا ناهده
نو بیا د کور سفېدۍ ځله کوې



څوک د فطرت لارې نیولے نۀ شي
زخم چې سړوا شي تاته ښۀ پته ده
کړاني شهلا، آتش فشان شي غړونه

○

نن چې مې شوندې ورته اوچيچلې
وښل ئې خپل علاج په وخت دې پکار
ستا په مازغو کښې جوړ چینجې شوے دے

○

څوک ترینه سمه ورځ لیدلے نۀ شي
راغبۀ ئې اوښکو په رخسار خوارۀ کړۀ
ښکارې چې بیا چاته اوبۀ خړوي

دَ وږش دا لوے احسان به څوک هېروي
لا جينکۍ دَ نڅو کالــو نهٔ وي
دَ پېغلتوب غوړځنګ ئې ملا ماتهٔ کړي

چا له هم نهٔ ورکوي ځاے په زړهٔ کښې
په صفايئ باندې ئې مه تېروځه
هرو خپل ځ دَ اېښې نښته دے

سر که مې غواړې نو په خود کښې اوسه
که سيادلی دې په ځان راوستلې
سر به هر څهٔ ته ور په خولې کړم زهٔ



زهٔ حادثــو را ژوندے کړے يمه
رانه چې لاس دَ مينې رانښکلو تا
دَ سينه چپــو راله پناه راکړله

تــه خپله لور خور قرمېزنه کښه
خو ما څهٔ داسې اورېدلي دي چې
خپله برجو له پردي باتهٔ نيئ وي

دَ ژوند په هر پړاوُ تنور لمبه دے
دَ بارانــونو انتظار مهٔ کوه
چرتــه وريځې غرغنړه اونکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته ئې مه وښئه څرګه پرېږدوه
يتيم که ډېر هم خدائے خوشحاله کړلو
خو دَ زړا عادت ترې اونهٔ وتو

○

چا ته دَ سپي سرې نظر نهٔ کوي
هسې بې ځايه پرې ځان مهٔ سپکوه
کاڼے هغه دروند وي چې پروت وي په ځائے

○

دَ حقيقت زهر کوټلي دي ما
زهٔ خو دَ خوب دنيا کښې نهٔ اوسمه
پېغله په څه غېږه کښې زوے راکوي



وينې ئې اوڅڅکلې زما دَ وجود
ما ډاکټرانو باندې مهٔ ګرځوئ
رب دې دَ خولې لاړې دارو کړي زما

○

زهٔ بدګمانه ستا په مينه نهٔ يم
خو خندګه زده کړم دَ راګونو ژبه
مزدور غريب دَ لوږې غوږ نهٔ ويني

○

شيريني دا يو اعتراف به کوې
درد دَ خندا پرده کښې مهٔ پټوه
خلق دَ مات لوښي اواز پېژني

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ شاعر چاپ کتابونه

(۱) دَ رڼا سپوږي، پښتو شاعري (چاپ ۱۹۹۱ء)

(۲) ہم آئینوں کے قیدی، اردو شاعری (چاپ ۱۹۹۳ء)

(۳) ستړکو کښې خوب دَ ډکو دریابونو نهٔ شو

پښتو شاعري (چاپ ۱۹۹۶ء)

روپے ایوارډ یافته چاچا کریم بخش ایوارډ ۱۹۹۶ء

(۴) راته غوږونو کښې بنګړي شرنګوي

دَ پښتو هایکو مجموعه، (چاپ ۱۹۹۸ء)

(۵) گرفت، اردو شاعری (چاپ ۱۹۹۹ء)

(۶) کاڼي دَ ګل په لاس کښې خوند نهٔ کوي

دَ پښتو هایکو مجموعه، (چاپ ۲۰۰۰ء)

# ناچاپ کتابونه

(۱) وایه زما دَ خوب تعبیر به څهٔ وي

پښتو شعري مجموعه

(۲) رضا ہمدانی شخصیت اور شاعری، ایم۔ فل مقاله

(۳) بیباکئ اظهار، دَ اردو تقریرونو مجموعه

Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**